د افغانستان څېړنې او ارزونې اداره
د توضیح پاڼو لړۍ

ګرانت کیپن		۱۳۸۷ کال، د لړم میاشت

# د ۱۳۸۸م کال ټولټاکنې: په افغانستان کې د دموکراسۍ د منځته راوړلو په وړاندې تخنیکي او شرایطي ننګونې

محتوا

مقدمه
شالید
تخنیکي پروسې
په شرایطو پورې اړوند موضوع ګانې
لاسته راوړنې: د بریالیتوب توضیح
پایلې
مأخذ

ګرانت کیپن ۲۸ کاله د ټاکنو په سیاست او د دموکراسۍ د پیاوړې کولو په اړوند فعالیتونو کې تیر کړي دي. نوموړی په ۱۳۸۱ او ۱۳۸۲ لمریز کلونو کې د ملي دموکراتیک انستیتیوت (NDI) د هیواد په کچه عمومي رئیس ؤ. په کال ۱۳۸۳ کې نوموړی د ولسي جرګې او ولایتي شورا د ټاکنو لپاره د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون (ECC) د ریاست دنده پغاړه درلوده. پدغه نږدې وختونو کې هغه له پاکستان څخه چیرته چې هغه د څلورو میاشتو لپاره د پاکستان د ټاکنو کمیسیون د شکایت په اړه د قضاوت کولو مشاور ؤ، خپل هیواد ته بیرته ستون شو.

## سریزه

دغه پاڼه په افغانستان کې د راتلونکو ټولټاکنو لپاره تیاري او د ټولټاکنو په وړاندې کړه وړه ارزوي. ټاکل شوې ده چې د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې د ۱۳۸۸ کال د زمري میاشت یا سپتمبر په میاشتو کې په لاره واچول شي چې ور پسې به د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې د ۱۳۸۸ کال په نیمایي کې په لاره واچول شي. دغه پاڼه په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو کې د ټولټاکنو د لومړۍ ټولګې د څرنګوالي په هکله پخواني معلومات چمتو کوي؛ او په انتقالي دوره کې د راتلونکو ټولټاکنو لپاره د فعالیتونو یا تیاریانو کمښت په ګوته کوي. د تیر وخت د بحث په تعقیب، دغه پاڼه به په دوه مجزا خو په یو بل پورې اړوندو ساحو باندې تمرکز وکړي.

**تخنیکي پروسې:** د پاڼې دغه برخه یو شمیر تخنیکي پروسې چې باید سمدلاسه پلې شي تر بحث لاندې نیسي، که تمه دا وي چې راتلونکې ټولټاکنې د اعتبار وړ او مشروع وګڼل شي. دغه پروسه د رای ورکوونکو نوم لیکنه (چې د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کې پیل شوه)، د کاندیدانو دقیقه څېړنه، د کاندیدانو د تمویل ترکیب او انفاذ قواعد، او د ټولټاکنو په اړه د خلکو پوهاوی او خبرتیا زیاتول په برکې لري. هریو ددغو پروسو لپاره غوره موضوع ګانې او بالقوه ننګونې په ژوره توګه بحث او څیړل کیږي.



**په شرایطو پورې اړوند موضوع ګانې:** څرنګه چې تخنیکي پروسې ډیرې زیاتې مهمې دي، لدې کبله دغه پروسې په یوې خلا کې نه ترسره کیږي (د نورو عواملو له اغیزې څخه پرته) او شرایط باید په پام کې ونیول شي. د جګړې څخه

وروسته شرايطو کې د ټولټاکنو تطبيقول د پامور ننګونه رابرڅيره کوي، خو په افغانستان کې د ټولټاکنو په لاره اچول ځانګړې موضوع ګانې راپوته کوي. دوه ستری ننګونې چې دلته په پام کې نيول شي په لوړه کچه د ظرفيت د لوړلو بيړنۍ اړتيا او په هيواد کې د امنيتي حالت بد تريدل دي.

دغه ټولټاکنې يوائې هغه وخت "بريالۍ" ګڼل کېږي چې خپله د افغانانو لخوا بريالۍ وانګيرل شي، او يوائې بيا به دغه د ټاکنو ګردان (پړاوونه) په افغانستان کې د دموکراسۍ د پياوړتيا او پراختيا سره د پامور مرسته وکړي.

## مخ په وړاندې لارې !

د ټاکنو له پروسې سره د لاندنيو وړانديزونو د تطبيقولو پوسيله بنيادي مرسته کيدای شي.

د ټولو کورنيو ذيصلاح ډلو د ګډون لپاره د يوی پراخ بنسټې ستراتيژۍ تصويبول

د ټاکنو خپلواک کميسيون او نړيواله ټولنه بايد د نامزدۍ اړوند موضوع ګانو ته يوه هر اړخيزه تګلاره تصويب کړي. دغه تګلار بايد د مدني زده کړې په رامنځته کولو او د خلکو د خبرتيا په پروګرامونو باندی چې په ټولو کچو کې د ظرفيت د لوړولو په منظور برابر شوي، هغه فعاليتونه چې د انتقالي دوری په بهير کې د تېرو ټولټاکنو راپديخوا پاتی شوی دي، تمرکز وکړي. دغه پروګرامونه بايد دواړه نارينه او ښځينه رای ورکوونکي؛ سياسي ګوندونه؛ کانديدان او دهغوی ملاتړ کوونکي او

تنظيموونکي؛ رسنۍ؛ مدني ټولنه؛ او د حکومتي چارواکو په ګډون، د افغانستان ملي پوځ او د افغانستان ملي پوليس، واليان، ولسوالان او د پوليسو قومندانان، او ملکي مامورين، په خاصه توګه په نښه کړي. دغه راز تګلار به مرسته وکړي څو د ټاکنيزو او دموکراتيکو پروسو په هکله غلط ادراک او همدارنګه د امنيتي انديښنو له امله پدغه پروسه کې د خلکو بی ميله ګډون بريالۍ کړي؛ دغه هغه عوامل دي چې ډير احتمال لري د رای ورکوونکو شمير محدود کړي.

پدغه تګلار کې به هڅه وشي تر څو په ساده توګه د رای ورکولو په تخنيکي شرحې باندی د تمرکز په پرتله د ټاکنيزې پروسې په

## مخففات

| | |
|---|---|
| ANA | د افغان ملي پوځ |
| ANP | د افغان ملي پوليس |
| ECC | د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون |
| ECT | د ټاکنو د پايلو تصديق کوونکی ټيم |
| ELECT | د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنيزو ظرفيتونو لوړتيا |
| EOM | د ټولټاکنو څارنيز ماموريت |
| FEFA | د افغانستان د ازادو او عادلانه ټولټاکنو بنسټ |
| GoA | د افغانستان حکومت |
| IDLG | د محلي حکومت لپاره خپلواک رياست |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کميسيون |
| IFES | د تاکنيزو سيستمونو لپاره نړيوال بنياد |
| IRI | نړيواله جمهوريت غوښتونکې اداره |
| JEMB | د ټاکنو د تنظيم ګډ دفتر |
| JEMBS | د ټاکنو د تنظيم د ګډ دفتر دارالانشأ |
| JSDRC | د خلع سلاح او ملکي کولو د ګډې دارالانشأ کميسيون |
| MOU | تفاهم ليک |
| NDI | ملي دموکراتيک انستيتيوت |
| SNTV | نه لېږدېدونکې واحده رايه |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNAMA | په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه هيأت |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام |

اړه د افغانانو پوهه او درک زیات کړي. دغه پروګرام جوړونه به په یوه استازي دموکراسۍ کې د هیواد والۍ د حقونو، رولونو او دندو یوه بنیادي عادلانه سنجونه هم چمتو کړي. یو ډیر باخبر رای ورکوونکی چې د رایې ورکولو حق ولري، کیدای شي د کاندید د دقیقې څیړنې پروسې د هرې نیمګړتیا په وړاندې په اړینو او اغیزمنو کارونو لاس پورې کړي ترڅو د دغې پروسې نیمګړتیاوو ته متوازنه بڼه ورکړي. ددغې ستراتیژۍ اجزاوې لاندې موضوع ګانې په برکې ولري:

*د خلکو په زده کړې باندې تمرکز:* د خلکو د زده کړې د پراخ بنسټه پروګرامونو پغاړه اخستل چې د ټولټاکنو له دورې څخه د مخه پېل کېږي (تقریباً د ټاکنې د ورځې څخه یو کال دمخه)، تر څو خلک د ټاکنیزې پروسې په ټول اړخونو باندې پوه کړي او هغوی د اساسي مدني حقونو او مسؤلیتونو سره اشنا کړي.

*د پروسې په هکله د کاندیدانو پوهول:* د نامزدۍ د دورې څخه دمخه د ټولو ممکنه کاندیدانو لپاره د یو تعمیلي ورکشاپ په لاره اچول باید د ټاکنیزې پروسې په هکله د کاندیدانو پوهه او همدارنګه د کاندیدانو او ټاکل شویو استازو د رولونو او مسؤلیتونو څخه درک کې زیاتوالی رامنځته کړي. د نامزدۍ د اسنادو د ډکولو څخه دمخه د ورکشاپ بشپړول باید د کاندیدۍ د شرطونو څخه یو شرط وي. ټول ګډون کوونکي به بیا په ډیر اوځار ډول د یو ټاکل شوي چارواکي د رولونو او مسؤلیتونو څخه او همدارنګه د ټاکنیزې پروسې د قواعدو څخه خبر شي.

د ورکشاپ تعلیمي خپرونه باید د ټاکنو د قانون په اړه د اصولو لومړی کتاب، د ټاکنو کړندود، د ټاکنیزو هلوځلو یا کمپاین تمویل، د کاندید دقیقه څیړنه، د شکایتونو کړنلارې او د ټاکنو د قانون څخه د سرغړونو لپاره جریمې، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون رولونه او مسؤلیتونه، امنیتي موضوع ګانې، او د ټاکنیزې پروسې د پړاوونو یوه اجمالي کتنه (د رای ورکوونکو نوم لیکنه، د رایې د اچولو څخه د مخه د رای اچولو نېټه، شمیرنه او غونډول) په برکې ولري.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د نړیوالو سازمانونو سره یوځای باید په ګډه توګه دغه ورکشاپ او تعلیمي خپرونه تسوید او پلی کړي. همدغه شان تعلیمي خپرونه کېدای شي د کورني مطبوعاتو د زده کړې لپاره وکارول شي تر څو د پروسې څخه خپله پوهه تسهیل او لا زیات رونړوالي ته ترویج ورکړي.

سره لدې چې دغه ورکشاپونه به ټولې هغه ستونزې چې تیرې ټولټاکنې ورسره مخ وې حل نکړي، خو د راتلونکې ټولټاکنو د کاندیدانو لپاره د ټولټاکنې له پروسې څخه د ټولیزه پوهاوي د ډاډه کولو په موخه دا ورکشاپونه یوه پراخه او فعاله تګلار ده. او که چیرې ټول کاندیدان ونشي کولای څو ټولیزه پوهاوي تر لاسه کړي نو زیاتره یې باید دغه پوهه ولري.

*د سیاسي ګوندونو لپاره د غښتلیو روزنیزو پروګرامونو چمتو کول:* سیاسي ګوندونو ته باید مشخص روزنیز پروګرامونه ورکړل شي خو همدارنګه باید تشویق شي او ورسره مرسته وشي څو د داخلي روزنې ظرفیت پیدا کړي نو هغوی به اړ نه وي چې پدې برخه کې یوازې د نړیوالې مرستې تابع اوسي. ګوندونه په خپلو کاندیدانو او ملاتړ کوونکو باندې د یو معینې اندازې نفوذ او کنټرول لرلو سربیره، کولای شي چې د مدني ټولنې د سازمانونو سره یوځای یو بشپړوونکی لاره هم چمتو کړي، تر څو خلک د ټاکنیزې پروسې په هکله پوه کړي.

*د ټولټاکنو د پروسې په هکله د افغان امنیتي ځواکونو پوهه زیاتول:* د ټولټاکنو لپاره د یو خوندي چاپیریال د برابرولو اهمیت په پام کې نیولو سره او همدارنګه هغه خطرناک رول چې افغان امنیتي ځواکونه به یې د خوندي چاپیریال په برابرولو کې لري، دوی باید په هغه شرایطو پوه شي د کومو په حدودو کې چې د دوی دندې اداره کېږي. ددغه موخې ترلاسه کولو لپاره، د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو لپاره د مدني تعلیماتو پر بنسټ یو روزنیز واحد باید تسوید او پلی شي.

دغه روزنیز واحد به افغان امنیتي ځواکونو ته د ټاکنیزې پروسې په اړه یوه بنیادي ځغلنده کتنه او په هغه کې د هغوی رول په ګوته کړي، نو هغوی به د یو خوندي چاپیریال د برابرولو او د وګړو د رای ورکولو حق چې په اساسي قانون کې راغلي، د تسهیل ترمنځ اړیکو باندې پوه شي. نړیوال پوځي ځواکونه په ښه موقف کې دي چې دغه روزنیز واحد پېل کړي او د خپل افغان شریک باندو او سازمانونو لکه د ټاکنو خپلواک کمیسیون یا د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام "د

راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنيزو ظرفيتونو د لوړتيا پروژې[1]" سره د ټول امنيتي پرسونل لپاره يو مختصر روزنيز پروګرام رامنځته او تطبيق کړي.

*د ملکي چارواکو رول:* د منفي رول په هکله چې ملکي چارواکي يې کولای شي په راتلونکو ټولټاکنو کې ولوبوي، د پامور اندېښنه موجوده ده، په ځانګړېتوګه د افغانستان د حکومتي منابعو د کارولو په اړه ځو د مشخصو کانديدانو د ټاکنيزو کمپاينونو سره مرسته وکړي. ددې لپاره چې په حکومتي ارګانونو باندې د خلکو اعتماد يقيني شي او د مشروعيت، باور او روڼوالي اړوند مرکزي موضوع ګانې په نښه شي، هر اړخيزه هڅه بايد په کار واچول شي تر څو د ټاکنو په پروسه کې د ملکي چارواکو ناپاييلتوب ډاډمن شي. دا پړاو به په ساده ګۍ د ولسمشر د يو فرمان په صادرولو سره ترسره نشي، بلکه د يو سخت دريځ او پراخ روزنيز پروګرام پوسيله چې د عامه ادارو په ټولو کچو تطبيقيږي، ترسره شي.

د يو روزنيز واحد تسويدول او تطبيقول بايد دا موضوع ډاډمنه کړي چې ټول ملکي چارواکي د ټاکنې د پروسې په ټولو پړاوونو، په بېلابېلو اړخونو او د ذيصلاح ارګانونو د رولونو او مسؤليتونو په اړه په واضح توګه پوهيږي. نوموړې روزنيز واحد به د ټاکنيز کمپاين په بهير کې د هغوی په مسؤليتونو تاکيد کوي چې په هر حال د ملکي مامور په حيث ناپاييلي اوسي. پدغه روزنيز واحد کې بايد دغه موضوع ګانې شاملې وي: د ټاکنو د پروسې او د مسؤلو ارګانونو يو ځغلنده کتنه؛ د ټاکنو د قانون بنيادي قواعد؛ ددې قانون څخه تيری او د هغې سزاګانې؛ د ټاکنو په پروسه کې د ملکي مامورينو دندې او مسؤليتونه؛ او د ملکي مامورينو لپاره کړندود. رسنۍ کولای شي ددغه روزنيز پروګرام لپاره د خبرتيا په زياتولو کې د پامور رول ولوبوي.

*۲) د راغونډولو چارې*

د ټاکنو خپلواک کميسيون او ملګري ملتونه بايد د ټاکنو د پاييلو يو تصديق کوونکی ټيم (ECT) منځته راوړل په پام کې ولري لکه څنګه چې پدغه وروستيو کې د ټولټاکنو لپاره په تيمور-لست او نيپال هيوادونو کې جوړ شوی وو. دغه راز يو ټيم کولای شي د وړاندې څخه د تسويد شويو اټکلي معيارونو په کارولو سره د ټاکنو د پروسې سراسري خپلواکه ارزونه په برياليتوب سره تر سره کړي.[2] دغه ټيم چې ورته بيطرفه، مسلکي تخنيکي لارښوونه هم ورکړل شي، کيدای شي په افغانستان کې يوه نمونه اوسي او د ټاکنو د خپلواک کميسيون او پراخې ذيصلاح ټولنې لپاره فرصتونه رامنځته کړي تر څو د پروسې په بهير کې کومې ستونزې چې رابرخيره کېږي حل کړي، چې دا کار ارزښتمن انګيرل کېږي. څرنګه چې د ټاکنو د پاييلو تصديق کوونکی ټيم به خپلې ارزونې په عمومي ډول خپرې کړي، دا به هم د پروسې مشروعيت او باورتيا لوړه کړي. د نوموړي ټيم فرمان او تګلار به د هغې پروسې په پرتله چې د بېلابېلو ټولټاکنو په بهير کې پغاړه اخستل شوی وه، ډيره تخنيکي او هر اړخيزه اوسي.

د افغان حکومت په وړاندې د اوسني شک او ترديد په پام کې نيولو سره او همدارنګه د خپلواکۍ موضوع ګانې چې د ټاکنو خپلواک کميسيون ورسره مخ دی، د ټاکنو په راتلونکي دوران (پړاوونو) کې د ملګرو ملتونو د ټاکنو د پاييلو تصديق کوونکی ټيم کولای شي چې افغانانو او نړيوالې ټولنې ته د ډاډګيرنې د اندازه کولو يو اضافي معيار چمتو کړي تر څو دا پروسه نړيوال معيارونه پوره کړي، په ځانګړېتوګه که چيری د ټاکنې د څارنې ماموريتونه د امنيتي دليلونو لپاره د رول کېږي يا محدوديږي.

*۳) د کانديد د دقيقې څېړنې په پروسه کې ښه والی رامنځته کول!*

د ۱۳۸۳ کال د ولسي جرګې د ټولټاکنو لپاره د کانديدانو د دقيقې څېړنې پروسې چار چاپيره د خلکو مغشوشتيا، شکمنتيا او په پای کې مايوسي له ځان سره درلوده. ددې لپاره چې دداسی يو حالت څخه مخنيوی وشي، د نړيوالی ټولنې په

[1] د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنيزو ظرفيتونو لوړتيا

[2] په تيمور لست کې د ملګرو ملتونو د ټاکنو د پاييلو تصديق کوونکۍ ټيم، "۱ ريپوټ،" ۲ ضميمه، د لرم د مياشت ۱۱مه نېټه، **۱۳۸۵**کال، ۱. د تيمور لست په هيواد کې، د ملګرو ملتونو د ټاکنو د پاييلو تصديق کوونکي ټيم موخه دا وه چې، "په خپلو موندونو او تشخيصونو کې په بشپړ ډول خپلواک او ناپاييلي اوسي. د ټاکنيزو اټکلي معيارونو پربنسټ چې د ملګرو ملتونو د دارالانشأ او د تيمور د ټاکنو مقاماتو په سلا مشوره د ټاکنو د پاييلو تصديق کوونکي ټيم لخوا رامنځته کېږي، ددغه ټيم قيموميت به دا وي چې دغه مسأله و ارزوي چې ايا په عمومي صورت د ټولټاکنې پروسه په قانع کوونکي شکل پرمخ ځي که نه."

مرسته د ټاکنو څپلواک کمیسیون او د افغانستان حکومت اړ دي څو پدغه پروسه کې د پامور ښه والي په غاړه واخلي.

**هغه نوښتونه چې اوسمهال د کار لاندې دي**

افغان چارواکو سره به د یوې ډیرې غښتلې پروسې په طرح کې مرسته وکړي. که څه هم چې، ډیر وخت ته به اړتیا وي چې د ټولو اړوندو ذیصلاح ډلو په منځکې د راتلونکو ټولټاکنو څخه مخکې د وخت د کموالي سره، مناسبه سلا مشوره او همغږې ډاډمنه کړي.

له نامزدۍ څخه د کاندید د دقیقې څیړنې جلاتوب یو مثبت پرمختګ دی چې د ۲۰۰۵ کال د ټولټاکنو څخه حاصل شوی، او باید په ټینګه توګه تعقیب شي. یو ځل چې د دقیقې څیړنې کړنلاره بشپړه شي، له دغې کړنلارې څخه به د هیواد په کچه د خلکو د خبرتیا کمپاین په موخه ګټه پورته شي. خلک باید د پروسې د طبیعت، طرح شوي مهال ویش او د دقیقې څیړنې د مقیاس څخه خبر شي. همدارنګه دغه کمپاین به د افغان حکومت وزارتونه او هغه سازمانونه چې په دغه پروسه کې رول لري په واضح ډول مشخص کړي او دغه رول به تشریح کړي.

# I. مقدمه

د ۱۳۸۸ کال د زمري یا وږي په میاشتو کې، افغانان به دویم فرصت ولري چې یو ولسمشر، او همدارنګه د ولایتي شوراګانو استازي وټاکي. د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو ټولټاکنې به د ۱۳۸۸ کال په نیمایي کې په لاره واچول شي، چې د طالبانو څخه وروسته موده کې لومړنې بشپړ ټاکنیز دوران جوړوي او د افغانستان د خلکو لپاره به په روان دموکراتیک بدلون کې یو مهم بنسټ منځته راوړي.

د رای ورکوونکو د نوم لیکنې سره چې اوسمهال جریان لري، فشار د ټاکنو په خپلواک کمیسیون، د افغانستان په حکومت او په نړیواله ټولنه باندې تمرکز کوي تر څو د پراخ دموکراتیک بدلون د پروسې ښکاره سختو شرایطو سره سره بریالۍ ټولټاکنې ترسره کړي. دغه راتلونکې ټولټاکنې به په یوه له رمزه ډکې پروسه کې چې د تیر ټاکنیز دوران د لومړني پړاو په بهیر کې ناکام شو څو کړې ژمنې پرځای کړي، د خلکو د اعتماد د بیا تلقین د ستړې ننګونې سره مخ کیږي. د داسې یوې پروسې لپاره د ملاتړ تأمینول چې په افغانستان کې یې تر ټولو مهمو ذیصلاح ډلو لپاره کمې پایلې منځته راوړي –د افغانستان وګړو ته –ښایي د راتلونکو نسلونو لپاره یوه روانه ننګونه اوسي.

د ټولټاکنو په وړاندې راز راز تخنیکي ننګونې موجودې دي. دغه ننګونې د رای ورکوونکو د نوم لیکنې، د کاندیدانو د دقیقې څیړنې، د کمپاین د مالي تمویل د مقرراتو د تسویدولو او نافذولو پروسې، او د ټاکنیزې پروسې په هکله د خلکو پوهاوی په بشپړ ډول لوړول په برکې لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون به په نږدې راتلونکو ټاکنو کې ددغه پروسو تنظیم او تطبیق په غاړه اخلي، خو د افغاني سازمانونو او نړیوالې ټولنې ترمنځ همغږي به ډیره اړینه وي.

د راتلونکو ټولټاکنو بریالیتوب به یوازې د تخنیکي پروسو په غاړه اخستلو څخه زیاتو فعالیتونو ته اړتیا ولري، او ددغه پروسو پلی کول به یوه وړه لاسته راوړنه یا کارنامه نه اوسي. په ټول هیواد کې د افغانانو د مشغولا او ګډون ډاډمنول بنسټیز امر بلل کیږي. په ساده ډول د داسې ټاکنو ترسره کول چې په غربي اساساتو ولاړ د تخنیکي معیارونو سټ برابروي، د پروسې مشروعیت او باورتیا به په بسیا کوونکې توګه ډاډمنه نه کړي، په ځانګړېتوګه که چیرې دغه پروسه رایه ورکوونکو ته اړوند نه وي یا داسې وکتل شي چې یوازې د یوې قانون ماتوونکې ډلې په نفع کار کوي. په پروسه کې د خلکو د بشپړ

لاس لرلو څخه پرته، له روان دموکراتیک پرمختیایي هڅو څخه به په شدیده توګه مخنیوی دوام ولري.

د افغانستان په شرایطو کې د یوې ټولټاکنې پلې کول ځانګړې اندېښنې وړاندې کوي. ددې لپاره چې په ټولټاکنو کې د وګړو برخه اخستنه تشویق شي، دوه ستري شرایطي موضوع ګانو ته اړتیا ده چې د ټولټاکنو په پروسو کې په پام کې ونیول شي. لومړی یې د ظرفیت د لوړولو اړتیا ده، لدې کبله دواړه د ټاکنو د پروسې تنظیم او تطبیق به په ریښتینې توګه د افغانانو تر سرپرستۍ لاندې ترسره شي، او همدارنګه په ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو کې تجربه په افغانستان کې د دموکراتیک کولو له پروسې سره په ډېره عامه توګه مرسته کولای شي. دوهمه ، او ښایي ډېره بېړنۍ موضوع، په هیواد کې د امنیتي حالاتو خرابېدل دي. هر راز هڅې او لاس پورې کولو ته اړتیا ده تر څو د خلکو په منځکې له هغه ادراک څخه مخنیوی وکړي چې ګواکې راتلونکې ټولټاکنې د ځینو سیمو له امله چې د لاسرسنې وړ نه بلل کېږي، د ټول هیواد استازیتوب یې نه کاوه. دا یواځې موجوده توپیرونه زیاتوي او لاډېرو اندیښنو ته لمن وهي.

په بنسټیز ډول، دا په هغه څه باندې اتکا کوي چې د نږدې راتلونکي ټولټاکنو لپاره کومې لاسته راوړنې به بریالۍ وګڼل شي. د تخنیکي، غربي معیارونو له لارې د بریا اندازه کول به کافي نه وي بلکه، ددغو ټولټاکنو پایلې باید د افغانستان د استازیتوب د مشروعیت او باورتیا سره سم اټکل شي. دا اړینه ده چې د هیواد ټولو برخو ته دا فرصت ورکول شي څو د ټولټاکنو په پروسه کې په مساوي توګه برخه واخلي؛ ددې لپاره کاندیدانو ته برابر فرصت په لاس ورکړل شي چې د څوکۍ لپاره کمپاین وکړي؛ او په نتیجه کې هیڅ ذیصلاح ډله ادعا ونه کړي چې هغوی ته د ګډون برابر فرصت نه ؤ برابر شوی. یواځې دغه معیارونه هغه وخت پوره کېږي چې د ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو ټولټاکنې د افغانستان په دموکراتیک بدلون کې د اعتبار وړ بنسټ کېږدي.

## II. شالید

په ۱۳۸۲ کال کې د ولسمشرۍ او په ۱۳۸۳ کال کې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو لومړنې سټ د ډېرو خلکو لخوا د یو نوي دور پېل په څېر چې خصوصیات یې د لسیزو جګړې او مدني بحران څخه وروسته د افغانستان د راتلونکي لپاره د هیلې، د ښې راتلونکې او لوړو توقوعاتو پوسیله توضیح کیدل، وکتل شو. د ۱۳۸۲ کال ټولټاکنې چې کابو ۸.۱ میلیونو خلکو د ټولټاکنې په ورځ خپلې رایې واچولې، په زیاته اندازه استازې ټولټاکنې ګڼل کیدی. لکه څنګه چې یو لوړ پوړي سیاسي شخص چې د پخواني حکومت غړې ؤ داسې بیان کړل چې "د ولسمشرۍ په ټولټاکنه کې سره لدې چې ډېرو ستونزو وجود درلود، خو بیاهم پایله یې د خلکو عزم او اراده په ډاګه کړه"[3] که څه هم چې د ۱۳۸۳ کال د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټولټاکنو د ټولو رایه ورکوونکو په برخه اخستنه کې یو اندازه کموالی (۲.۴ میلیونه رای ورکوونکي) او د پروسې په وړاندې یو شمیر جدي ننګونې چې د کاندید د دقیقې څېړنې او همدارنګه د رای ورکوونې او د رای شمیرنې بې نظمۍ له ځان سره درلودې، وښوده.[4]

د ښه راتلونکي او ښه ژوند هیلې چې د لومړنۍ ټولټاکنې په شا و خوا کې وجود درلود، داسې بریښي چې د افغانستان د خلکو په منځکې په مایوسیت، شکمنتوب او نا امیدۍ تعویض شوې وي. د امنیتي حالت خرابېدل چې توکمي اندیښنې راپورته کوي، او د محلي جګړه مارانو او قومندانانو زیاتیدونکی نفوذ

[3] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷م کال د غبرګولي ۲۵مه نېټه.

[4] مایکل سیمپل ته مراجعه وکړئ، "د افغانستان انتقالي ټولټاکنې – د ۱۳۸۳ کال د ولسي جرګې له ټولټاکنو څخه زده کړې،" په سهیلي اسیا کې د دموکراتیکو کړنلارو د پراختیا په اړه سمپوزیم، (۱۳۸۷ کال، د ورې دمیاشت ۸-۱۰).

دا ویره رامنځته کړې چې راتلونکي ټاکنیز پړاو به کمزوری او بې سیکه کړي. هغه انګېرنې چې حکومت فاسد او د خپلو وګړو اقتصادي او ټولنیز اړتیاوې نشي پوره کولی، لکه څنګه چې د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې تشخیص شوي، دغه حالت لا بدتروي. علاوه پر دی، د قانون حاکمیت محدود دی، عامه ارګانونه او د حکومتدارۍ جوړښتونه کمزوري دي، او د دولتي او نادولتي حکومتدارۍ د سازمانونو متعدد ډیری مهال موازي جوړښتونه موجود دي (چې تقریباً ټول یو شان مسؤلیتونه لري یا یو ډول کارونه ترسره کوي، چې اړتیا یې نه لیدل کېږي).[5] یو شمیر کتونکو داسې وړاند وینه کړې چې: د ۱۳۸۳ کال په نږدې تېر شوي ټاکنیزه موده کې ډیرو خلکو د دموکراتیک کولو پروسې ته چې نوی رامنځته شوی د زیان رسولو اخطارونه ورکړل چې دا کیدای شي د خلکو د توقوعاتو او د افغان حکومت او نړیوالی ټولنې د محدود ظرفیت له امله چې د خلکو د توقوعاتو سره سم عمل وکړي، ترمنځ د پراخیدونکي خلا په پای کې رامنځته شي.[6] د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو د څارنیز ماموریت په رپوټ کې د اوروپا اتحاد دا موضوع یادداشت کړه چې:

*... یو د پاموړ فکتور د افغانانو د حکومت جوړونې، بیارغونې او پرمختګ غوښتنو او د حکومت او نړیوالی ټولنې د اجرأتو ترمنځ زیاتیدونکې خلا نږدې کوي دا دواړه لارې جلا کوي. بې له شکه یو لړ اقدامات موجود دي چې کیدای شي د حکومت او نړیوالی ټولنې لخوا په لاره واچول شي څو د دولتي سازمانونو اجرأت او خلکو ته د خدمتونو چمتو کول زیات او ښه کړي. په عین حال کې، تر یوه ځایه د خلکو غوښتنې د چټکتیا یا مثبت بدلون د پراخوالي په برخه کې ریښتنې او په ځای ندي. په دغه*



*ساحو کې، سیاسي او پرمختیایي موخې اړینې دي چې په صداقت سره بحث شي، ترڅو د متداولې خوا ګرځیدنې د پېل څخه مخنیوی وشي چې کولای شي په سیاسي پروسه کې د خلکو د نه ګډون لامل وګرځي.*[7]

له بده مرغه، د تیرو دریو کلونو په موده کې، دغه وړاند وینې نه یوازې داچې ریښتنې ښه یې ونیوه، بلکه *همدارنګه* هر راز خوځښت چې له لومړنیو ټولټاکنو څخه لاسته راغلی ؤ، یو لړ تاوان هم د ځان سره درلود. په دغه څیړنه کې ځواب ویونکو د دموکراتیک پرمختګ د ورو ګام په اړه خپل ناامیدي څرګنده کړه.[8]

هغه خطرونه او ننګونې چې د ټولټاکنو راتلونکې پروسه ورسره مخ کېږي قطعي نده چې له هغو (خطرونو او ننګونو) څخه چې د ۱۳۸۲ یا ۱۳۸۳ کلونو په ټولټاکنو کې څرګندې شوې، توپیر ولري. که څه هم چې ډېر هغه خلک چې ددې پاڼې لپاره ورسره مرکې وشوې دا موضوع په ډاګه کړه چې د امنیت، اقتصاد، ټولنې او د حکومتدارۍ اړوند مسایلو په برخه کې د اثبات وړ پرمختګ د نشتوالي له امله دغه خطرونه او ننګونې لا ستونزمنې شوي تر څو لکه څنګه چې د ټولټاکنو پړاو نږدې کېږي په نښه یا کچه یې ټیټه شي.

[5] د ۱۳۸۷–۱۳۹۱ (۲۰۰۸ – ۲۰۱۳) کلونو لپاره د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي، (کابل: د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ دارالانشأ، ۲۰۰۸ کال). http://www.ands.gov.af/ands/ands_docs/index.asp (د ۱۳۸۷م کال د تلی په میاشت کې د لاسرسنې وړ شو).

[6] همدارنګه د اندریو وایلډر لیکنې ته هم مراجعه وکړئ، *ویښل شوې ولسي جرګه،* (کابل: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۳ کال).

[7] د اروپایي اتحادیې د ټاکنو د څارنې هیأت رپوټ، په افغانستان کې د دموکراسۍ رامنځته کول: د مخ په وړاندې لار لپاره یو مدغم بعد (۱۳۸۳ کال)، ۳.

[8] مرکه، کابل، د ۱۳۸۲م کال د مرغومی په ۲۵مه نېټه.

## د افغانستان د ټاکنو قانون، ټاکنيز سيستم او سياسي جوړښت

د ټاکنو اوسنې قانون په بنيادي شکل په کال ۱۳۸۲ کې طرح شو[۹] او د بېلابېلو موضوع ګانو په اړه لکه د ټاکنيزو حوزو حالت، د کانديدانو مشروعيت، د ټولټاکنو په بهير کې تخنيکي کړنلارې او د ټاکنو د خپلواک کميسيون رول په اړه قوانين تشريح کوي. اوسمهال، د ټولټاکنو د قانون يوه نوی مسوده په ولسي جرګه کې تر بحث لاندې ده چې د يو شمير بدلونونو غوښتنه کوي. پدغه بدلونونو کې د رايو شميرنه د ولايتي کچو څخه د ولسواليو کچو ته اړول او هغه شرط چې رای ورکوونکي به خپلې تذکرې له ځان سره راوړي تر څو د رای ورکولو وړ وګرځي، شاملې دي. په نوي قانون کې ځينې مادې بحث او تصويب شوي دي، خو ډېرې نورې مادې يې پاتې دي چې د ډېرې مشاجرې او مباحثې وړ دي. يوه ماده چې د کوچيانو لپاره ځومره څوکۍ بايد په پام کې ونيول شي، يوه د بحث وړ موضوع ده، او دغه موضوع په تقنيني پروسه کې د نورو موضوع ګانو په منځکې د نوي قانون د طرحې لپاره د پامور ځنډ لامل ګرځيدلې. د نوي قانون د څېړولو پرمهال، دا لا معلومه نده چې ايا دغه نوی قانون به لکه څنګه چې اوسمهال قرار لري تصويب شي، او په ځانګړېتوګه دا هم معلومه نده چې ايا نوموړی قانون به په هغه وخت کې تصويب شي چې د ۱۳۸۷ يا حتی د ۱۳۸۸ کلونو ټولټاکنې عملي بڼه غوره کړي.[۱۰]

همدارنګه ولسي جرګې د سياسي ګوندونو يو نوی قانون پاس کړ چې هغه قانون به تعويض کړي چې په کال ۱۳۸۱ کې د ولسمشرۍ تر فرمان لاندې پاس شوی ؤ. که څه هم چې، دغه نوی قانون ولسي جرګې ته بيرته واستول شو، ځکه چې د نوي قانون څو برخې داسې انګيرل کيدی چې د اساسي قانون په خلاف وی او مخکې له دی چې ولسمشر پری خپل لاسليک وکړي، يو لړ بدلونونو ته يې اړتيا درلوده. يو ځل چې نوی قانون عملي بڼه خپله کړي، سياسي ګوندونه به اړ ايستل شي څو له سره درج شي، ددی لپاره چې د دولت لخوا په رسمي توګه وپيژندل شي. د نوي قانون د عملي کيدو د نېټې ټاکل کولای شي د سياسي ګوندونو په وړتيا باندی منفي اغيزه ولري څو په ټاکنيزې پروسې کې په بشپړه توګه برخه واخلي، ځکه چې د هغوی هڅې به ښايي په بيا له سره درجولو باندی تمرکز کوي.

د افغانستان ټاکل شوی ټاکنيز سيستم نه ليږديدونکې واحده رايه (SNTV) ده.[۱۱] له بده مرغه، د نه ليږديدونکې واحدی رايې سيستم يو ستر زيان دا دی چې د سياسي ګوندونو رول په نمايشي توګه منزوي کوي، پدغه سيستم کې د کانديدانو د شمير په وړاندی چې کولای شي په هری يوی ټاکنيزې حوزې کې ودريږي هيڅ محدوديت نشته او د کانديدانو لپاره د ګوند نامزدي نه بلل کيږي. په حقيقت کې، د ۱۳۸۳ کال د ولسي جرګې په ټولټاکنو کې، کانديدانو ته په رسمي توګه اجازه نه وه چې په رای پاڼه کې خپل ګوندي تړاو ذکر کړي (که څه هم ځينو کانديدانو په هر حال دا کار وکړ). له يوه پلوه، دغه قانوني لايحه د دی سبب وګرځيده چې د کانديدانو اکثريت په خپلواک شکل کمپاين وکړي (او نور ډېر يې د ګوندي تړاو له اعلامولو څخه چې ښايي درلود به يې، منع کړل). له بله پلوه، تأسيس شوي ګوندونه پدی قادر وو چې د خپلو کانديدانو (کومو چې قطعاً خپل ګوندي تړاو اعلام کړې نه وو) د ويشلو په وسيله

---

[۹] دغه قانون متعاقباً په ۱۳۸۳ کال کې د ولسي جرګې د افتتاح سره پلی شو. ددغه وخت راهيسې، په دغه قانون کې يو شمېر تعديلات منځته راغلل. د لا زياتو تفصيلاتو لپاره ديويد اينس ته مرجعه وکړئ، "د افغانستان د ټاکنو د حقوقي کاري چوکاټ تحليل،" د ټاکنو د سيستمونو لپاره نړيوال بنسټ (IFES) (۱۳۸۴کال). http://www.ifes.org/publication/6edc6915bd6b8b2ff4b042d9fc49557/Analysis%20LegalFramework.pdf (د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر په مياشت کې د لاسرسنې وړ وګرځيد).

[۱۰] ۱۰۹ ماده (۵ فصل، ۲۹ ماده) د افغانستان اساسي قانون داسې بيانوي چې "د ټولټاکنو قانون د تعديلولو لپاره وړانديزونه د قانون جوړونې د وروستي کال په بهير کې د ملي اسمبلۍ په کاري اجندا کې بايد شامل نوي." د ۱۰۹ مادې په پامکې نيولو سره، د ۱۳۸۸ کال د ولسمشرۍ د ټولټاکنو څخه دمخه، د ټاکنو د نوي قانون په سر توافق ناشونې ښکاري.

[۱۱] د نه ليږديدونکې واحدې رايې سيستم د ننګونو په اړه د لا زياتو مفصلو ازموينو لپاره اندريو رينولدس او اندريو وايلډر ته مراجعه وکړئ، *ازاد، عادلانه يا نيمګړې: په افغانستان کې د قانوني ټولټاکنو په وړاندی ننګونې* (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۱۳۸۲ کال).

دغه سیستم په ستراتیژیک ډول په ښه توګه استعمال کړي، تر ځو د امکان تر حده زیاتې څوکۍ لاسته کړي. په همدې ترتیب، دغه کار په یو داسې ولسي جرګه کې نتیجه ورکړه چې ستر ګوندونه او همدارنګه د سیاسي ګټو محدود رسمي سازمانونه پکې شامل وو. په هر حال، دغو بېلابېلو ګوندونو د پاموړ شمیر تشکیلاوه او له همدې کبله، ولسي جرګه د مجادلې څخه ډک د ګڼ شمیر نظریاتو څخه جوړه وه. اتفاقاً، د ټاکنو د قانون دغه نوی مسوده په ټاکنیز سیستم کې د هیڅ ډول بدلون تجویز نه کوي. د نه لیږدیدونکې واحدې رایې سیستم د بدلون لپاره یوه اټکل شوی ماده چې د ګوند د غړو لست پکې شامل ؤ، وړاندې شو، تر څو د نسبي سیستم شکل غوره کړي، خو دغه وړاندیز د نه لیږدیدونکې واحدې رایې سیستم د ساتلو په موخه چې په مخکینیو ټولټاکنو کې ترې کار اخستل شوی ؤ، رد شو.

واقعیت دا دی، چې په افغانستان کې سیاسي ګوندونه د خلکو په ذهنونو کې منفي انځور جوړوي،[12]خو په هغه هیوادونو کې چې دموکراسي پکې غښتلې وي، ګوندونه د استازیتوب سیاست په تنظیم کې مهم رول لوبوي.[13]تر دې دمه، په افغانستان کې سیاسي ګوندونو ته لږ فرصتونه او همدارنګه لږ بهرنې ملاتړ چمتو شوي دي څو د افغانستان په سیاسي پروسه کې خپل رول ته قانوني بڼه ورکړي، لدې کبله، دا هغه عوامل دي چې په افغانستان کې د ګوندونو د ودې او پراختیا خنډ ګرځي. که چیرې ګوندونه د ډېر مرکزي او اوځار رول په غاړه اخستلو پېل ونکړي، د دموکراتیک کولو پروسې د ودې او پرمختګ څخه به د پاموړ مخنیوی وشي. لدې کبله، ګوندونه

باید پدغه پروسه کې په بشپړه توګه ښکیل اوسي تر څو د خپلو کاندیدانو اعمال وڅاري، د خپل ملاتړ کوونکي بنسټ سره اړیکې تنظیم او برقرار وساتي، او د مدني ټولنې اړوند سازمانونو سره د خلکو په پوهاوي کې مرسته وکړي.

د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په بهیر کې، هم ملي دموکراتیکې ټولنې (NDI) او هم نړیوالې جمهوري غوښتونکې ټولنې (IRI) د سیاسي ګوندونو سره د پرمختیایي بنسټ په اساس کار کاوه. که څه هم چې، ددغه ټولټاکنو په تعقیب، هم سازماني پروګرامونه او هم مالي تمویل خپل د تمرکز خوا بدله کړه تر څو پر ځای یې د قانون جوړوونکو او ټاکل شویو استازو سره کار وکړي. په رسمي توګه د سیاسي ګوندونو بوختول به هغوی ته دا فرصت په لاس کړي څو دا په ډاګه کړي چې هغوی کولای شي د ټاکنیزې پروسې سره په مثبت ډول مرسته وکړي. همدارنګه د ګوندونو دغه راز بوختیا ښایي ګوندونه تدریجاً و هڅوي څو د داسې سازمانونو څخه چې یواځې په خپلو غړو مرکزیت لري، پراخ بنسټه سازمانونو ته چې د ګڼ شمیر وګړو د استازیتوب ظرفیت ولري تکامل وکړي. د ټولټاکنو پروسې سره د سیاسي ګوندونو بالقوه مرسته کیدای شي په خطر کې واچول شي، که چیرې هغوی اړیاسل شي څو د بیا درجونې/بیا ثبتونې په پروسه کې په همزماني توګه ښکیل شي، که څه هم چې دغه پروسه به تعمیل شي که چیرې د سیاسي ګوندونو نوی قانون په راتلونکو څو میاشتو کې عملي بڼه خپله کړي.[14]

## د کاندید تصور او لرلیدونه

په مرکو کې، د ټاکل شویو استازو او اټکل شویو کاندیدانو اکثریت د راتلونکو ټولټاکنو لپاره د امنیتي حالت د بدتریدو د اغیزې په اړه اندیښمن وو. همدارنګه نور ډېر یې د افغان حکومت د مدیریت او په بالقوه ډول د هغه منفي رول په اړه

[12] په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د تاریخ د جامع تحلیل لپاره توماس ریوتیګ ته مراجعه وکړئ، *اسلام پال، دګوند پلویان (لکه د سوسیالیزم یا کمونیزم) –او بېطرفه (دا کتاب په انګریزۍ ژبه هم موجود دی). د افغانستان سیاسي ګوندونه او د هغوی منشأ (۱۹۰۲-۲۰۰۶ )* (کونرد ادیناوړ ستیبفتنګ، ۱۳۸۴ کال)

[13] هیله کېږي چې په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د رول په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری د نږدې راتلونکې توضیح پاڼې لړۍ ته مراجعه وکړئ.

[14] هیله کېږي چې په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د رول په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری د نږدې راتلونکې توضیح پاڼې لړۍ ته مراجعه وکړئ.

اندیښمن وو چې عامه چارواکي یې کولای شي پدغه پروسه کې ولوبوي، په ځانګړېتوګه کله چې د ټولټاکنو وخت نږدې کېږي.

کله چې د ټولټاکنې لپاره د زیاتره غوره شویو استازو سره چې د بیا ټاکنې په لټه کې وو مرکه وشوه، کم تر کمه یو یې پریکړه کړې وه چې د دوهم ځل لپاره ګډون ونکړي. دغه استازي د رایه ورکوونکي غوښتنو (په ځانګړېتوګه هغه خلک چې د اقتصادي او ټولنیز سمون په اړه اندیښمن وو) ته پاملرنه کوله چې ډیرې لوړې او د پرځای کیدو وړ نه بریښیدې. متعاقباً، نوموړي استازي بحث او استدلال کاوه چې، ښه کاندیدان اړ ایستل کېږي څو د ټاکنیز پړاو څخه لیرې کړای شي او پرځای یې هغه کاندیدان پاتې کېږي چې جګړه ماران او قوماندانان دي، کوم چې به یواځې سیاسي حالت لابدتر کړي.

د ولسي جرګې ځینو ټاکل شویو وکیلانو چې د کوچنیو سیاسي ګوندونو پوری تړاو لري، د ۱۳۸۸ کال ټولټاکنې د نوي ټاکنیز کمپاین د تخنیکونو لپاره د ازمایښت میدان په څیر انګیري. د نه لیږدیدونکې رایې سیستم د نیمګړتیاوو په تشخیصولو سره، د دوی موخه دا ده چې داسې ستراتیژۍ تسویدی کړي تر څو په هغه تنګونو باندی غالبې شي چې تنظیم شوی ګوندونه د خپلو غړو په کاندیدولو کې ورسره مخ دي. د بیلګې په توګه، ددی پر ځای چې په یو مشخص ولایت کې د خپلو کاندیدانو بشپړ لست وړاندی کړي، کوچني ګوندونه مقدماتي بحثونه په لاره اچوي چې د کاندیدانو د مجموعي شمیر په سر چې هغوی به یې په ګډه توګه پرمخ بیایي، یوی غیر رسمي پریکړې ته د رسیدلو په موخه طرح کېږي.[15] د کاندیدانو د شمیر په پوهیدو چې د هغوی د رایې بنسټ به هغوی ته لار هواره کړي چې ټاکنو ته ودریږي، دغه کوچني ګوندونه هیله مند دي چې د ستراتیژیکې مرستې سره به دوی لا غښتلي شي څو د سترنومو کاندیدانو سره سیالي وکړي. په حقیقت کې، سره لدی چې ولسي جرګه پدی ونه توانیده څو د ټاکنو نوی قانون چې د نه لیږدیدونکې واحدې رایې سیستم تعویضوي پاس کړي، یو شمیر ټاکل شوي استازي چې ددی پانې لپاره مرکې ورسره وشوی، اوس هم داسی ښکاري چې پدی پوه دي چې سیاسي ګوندونه باید د افغانستان په راتلونکي سیاسي خبرو اترو کې ډیر رسمي رول ولري.

همدارنګه دغه راز ډیرو کاندیدانو پلان درلود تر څو په اړینو موضوع ګانو ولاړ کمپاین په لاره واچوي، لکه څنګه چې په شخصیت یا شخصي مسایلو تمرکز کول د قانوني لایحې څخه سرغړونه وه. د افغان حکومت د درج او اجرأتو په وړاندی، او همدارنګه د نورو کاندیدانو په وړاندی چې د ولسي جرګې د وکیلانو په حیث د پوښتنې وړ سوانح یې درلودې، ښکاري چې یوه داسی ستراتیژي اوسي چې وررو وررو رسمي بڼه خپله کړي.

ډیرو استازو دا موضوع درک کړه چې خلک د بدلون غوښتونکي دي، او له همدی کبله وړاند وینه کوي چې نوي کاندیدان به د ټولټاکنې لپاره ودریږي. ټول باید خپل مقامونه له سره و ارزوي او پریکړه وکړي چې ایا دا امکان لري چې د پخوا په څیر د عین سیاسي کمپاین په کارولو سره بیا د ټولټاکنو لپاره ودریږي یا داچې هغوی باید خپل ځانونه د اصلاح غوښتونکو په څیر په بله بڼه څرګند کړي.

محقیقین او ناظرین تمه لري چې د استازو یو کوچنې اقلیت چې په کال ۱۳۸۳ کې ټاکل شوي ؤ، د تیټې درناوي له کبله چې خلک یې او سمهال د ولسي جرګې د وکیلانو په نسبت لري، د ۱۳۸۸ کال په ټولټاکنو کې بیا وټاکل شي. د هغې لارې په پام کې نیولو سره چې افغاني سیاست په دودیز ډول کارول کېږي، سره لدی چې، زیاتره ټاکل شوي استازي ممکن خپل د ټاکلو واک تر هغه وخته جاري وساتي چې د راتلونکو ټولټاکنو لپاره له هغوی څخه وغوښتل شي چې خپل د نامزدۍ اسناد ترتیب کړي.

[15] ځواب ویونکو څرګنده کړه چې دغه غیررسمي همکاري به په لومړي سر کې په دغو ګوندونو کې د یوځای کیدو له لاری ګټه ونکړي، خو که چېرې تنظیم ښه کار ورکړي او هغوی خپل د مترادفی پالیسۍ کړنلارې شریکې کړي، لا زیات توحید ته به لار هواره کړي. دا اصلي موضوع ده، چې د سیاسي ګوندونو سره مرسته او له هغوی څخه ملاتړ لکه د دوی غوندی، له حده زیات مهم کار دی.

## په ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ کلونو کې د ټاکنیزو پروسو تنظیمول: فعالین او د هغوی رولونه

په راتلونکو دوه کلونو کې د ټولټاکنو د تنظیم او تطبیق پروسه به یوه ډیره پیچلې دنده وي، چې ګڼ شمیر فعالین به پکې بوخت وي. دغه برخه دغوره فعالینو او په ټاکنیزو پروسو کې د هغوی اټکل شوي رولونه په ګوته کوي.

### *د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC)*

په هغو سازمانونو کې د پاموړ بدلون چې د نړیوالی ټولنې لخوا یې مشري کیده، اوس افغاني ارګانونه –او په لومړي سر کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون به د نږدې راتلونکي ټولټاکنو د تنظیم او پلی کولو دنده پغاړه ولري. په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو کې، د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر (JEMB) د ټاکنو د تنظیم ګډ دفتر د دارالانشأ (JEMBS) په عملیاتي مرسته د ټولټاکنو څارنه کوله. ددغه دواړو دفترونو تشکیل د افغاني او نړیوالو کار کوونکو څخه جوړ ؤ. همدارنګه د نوموړو دفترونو سره د ټولټاکنو په لاره اچونه کې نورو نړیوالو ذیصلاح سازمانونو لکه په ۱۳۸۲ کال کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام (UNDP) اداري او د پروژې د خدمتونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (UNOPS) مرسته وکړه.

د ټولټاکنو په ترڅ کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون تشکیل شو تر څو د ټاکنیزې پروسې مدیریت او اداره پرمخ بوځي. دغه خپلواک ارګان یو شمیر ننګونو سره مخ دی، یوه ننګونه یې چې کوچنۍ نه بلل کیږي دا ده چې د حکومت سره ددغه خپلواک ارګان درک شوی تړاو دی، کوم چې د ارګان خپلواکي او ناپیلتوب تر پوښتنې لاندې راولي.

د افغانستان په حکومتي ارګانونو باندې د خلکو د موجوده اعتماد د نشتوالي یا کموالي په پام کې نیولو سره، دا کیدای شي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره د یو بدمرغه لومړي کوښښ پرمخ بیول وي. علت یې دا دی چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رئیس د ولسمشر لخوا انتصاب شوی –او د اعتماد وړ بیانیې چې هغې تسوید کړي –دغه خپلواکي لا زیاته تر مصلحت لاندې په ډاګه کوي. دغه بیانیې د کاندید د لیاقت او وړتیا په اړه د نوموړي رئیس خپلی شخصي نظریې منعکسوي، چې دغه نظریې په پروتوکول کې د یو ستر درز په څیر د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د اداری خپلواکي په نیغه متأثره کوي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون دغه شخصي څرګندونې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (FEFA) اړ ایستلو څو یو مطبوعاتي خبر خپور کړي او د ټاکنو "د خپلواک کمیسیون څخه غوښتنه وکړي چې د ښاغلي لودین د بیانیو په اړه خپل رسمي دریځ اعلام کړي تر څو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په ناپیلتوب باندی د خلکو باور او اعتماد د بیا ترلاسه کولو سره مرسته وکړي."[۱۲]

### *د افغانستان حکومت*

د افغانستان حکومت، د خپلو زیاتو ورزاتونو او ارګانونو له لارې به په راتلونکي ټاکنیزه پروسه کې یو ملاتړ کوونکې خو همدارنګه به مهم رول ولوبوي. دغه رول به د عامه ارګانونو او د حکومتداری د جوړښتونو ظرفیت لوړ کړي. که څه هم چې، ډیر له هغو خلکو سره چې مرکې ورسره ترسره شوی، د حکومت د وزارتونو او ارګانونو ګډون له یو مثبت نظره نه کاته او په راتلونکو ټولټاکنو کې د هغوی د رول او همدارنګه د هغوی د لاس لرلو د بالقوه منفي اغیزې په اړه اندیښمن وو. خو بیاهم، په ټولټاکنو کې د افغان حکومت د مرستې او ملاتړ یوه مهمه څرګنده بڼه به د افغان امنیتي ځواکونو، یعنې د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو انسجام او روزنه وي.[۱۷]

---

[۱۲] د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ خبري بیانیې ته مراجعه وکړئ، د ۱۳۸۷م کال د چنګابښ د میاشت ۲۳مه نېټه: *د افغانستان د ازاد او عادلانه ټاکنو بنسټ د هغو تبصرو په اړه چې د ولسمشری د معیار او مقیاس په هکله د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رئیس لخوا وړاندی شوی، اندیښمن دی، او دغه راز بیانیه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په ناپیپلتوب کې د درز یا چاود په څیر ملاحظه کوي.*

[۱۷] افغان ملي پولیس به د رای ورکوونکو د نوم لیکنې د مرکزونو او د رایې ورکونې د محلونو چار چاپیره د امنیت ټینګولو دنده پغاړه لري، په داسی حالکې چې افغان ملي پوځ به د افغان ملي پولیسو تر شا امنیتي تدابیر نیسي.

### *د ټولټاکنې د څارنې سازمانونه*

د بېلابېلو نړيوالو بسپنه ورکوونکو د مرستی له لارې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو راهيسې، و توانيد چې خپل عملياتو ته ادامه ورکړي. د لنډمهالې اداری په بهير کې، نوموړې بنياد په راز راز مدافعي او ځيرنيز فعاليتونو بوخت ؤ. دغه بنياد پدی پوهيږي چې بدتريدونکی امنيتي حالت کولای شی په ټول هيواد کې د څارونکو په ګمارنه او د هيواد ټولو برخو ته د هغوی په ځغولو / خپرولو کې د بنسټ ورټيا په بالقوه ډول متأثره کړي. دا ممکن د ټولټاکنو په نړيوال څارنيز ماموريت هم د پاموړ تاثير ولري. وروسته بيا دا موضوع به مهمه وي چې سياسي ګوندونو او د کانديدانو استازو (هغه استازي چې د کانديدانو په استازيتوب عمل کوي) سره اړيکه ټينګه شي،[18] لدی لارې هغوی کولای شي چې د ټاکنيزې پروسې په څارنه کې يو ډير باخبر او دخيل رول پغاړه واخلي.

### *د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون*

د دی موضوع په پامکې نه نيولو سره چې ايا راتلونکی ټولټاکنې به د اوسني يا نوي ټاکنيز قانون تر انفاذ لاندی په لاره واچول شي، د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون به د څرګند شويو تېريو او سرغړونو په ځيرنه او قضاوت کولو کې يو ارزښتمن رول ولوبوي. د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په درشل کې د نوموړي کميسيون تر ټولو څرګنده ننګونه دا وه چې دغه کميسيون د خپلو زياتو پروګرامي فعاليتونو د اغيزمن پلان او مديريت لپاره د وخت او سرچينو د کموالي سره مخ ؤ. هغه لار چې دغه کميسيون په اغيزمن ډول خپلی چارې ترسره کړي دا به وي چې

[18] د کانديدانو استازي د کانديدانو لخوا ټاکل کيږي تر څو د ټولټاکنې په ورځ د رايې ورکوونې په محلونو کې فعاليتونه وځيړي او وڅاري، د کانديد پر ځای چې د رايې اچونې په محل کې يې موجوديت منع دی، د ټاکنې د پروسې په هکله شکايتونه درج کړي. همدارنګه د کاندی استازي ښايي د ټولټاکنو د ورځې څخه دمخه د کانديد په کمپاين کې هم مرسته وکړي. د لا زياتو معلوماتو لپاره www.jemb.org ته مراجعه وکړئ.

د پلان کولو دوران (پړاوونه) مخکې پيل کړي،[19] او ورته بشپړه خپلواکي او هغه سرچينې چې دا کميسيون ورته اړتيا لري ورکړل شي تر څو خپلې دندې په بشپړه توګه او پلان سره سم پرځای کړي. په همدی منظور، کاري ګروپونه جوړ شوي تر څو د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د اداری د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنيزو ظرفيتونو د لوړتيا پروژې (UNDP ELECT)، د ټاکنيزو سيستمونو لپاره د نړيوال بنياد (IFES)، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه هيأت (UNAMA) سره يو ځای چې ددغو ګروپونو لپاره مسؤل انګيرل کيږي، په دقت طرح کړي.

### *نړيواله مرسته*

يوائې د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې پروسې د اوسنيو څلورو پړاوونو لپاره تر ۱۰۲ ميليونو امريکايي ډالرو زياته بودجه تخصيص شوی ده. د ۱۳۸۸ کلونو د ټولټاکنو لپاره د مجموعي بودجې اټکل اوس هم د بسپنه ورکوونکې ټولنې لپاره د بدلون په حال کې ده، خو د هرې ټولټاکنې لپاره لومړنی. وړاندوينې د ۱۲۰ څخه تر ۱۵۰ ميليونه امريکايي ډالرو په حدودو کې اټکل شوي. په هر صورت، تر ټولو ستره اندېښنه چې په مرکو کې تشخيص شوه، د ژمنه شويو مالي مرستو کموالی نه ؤ، بلکه د مالي مرستو مهال ويش ؤ چې يادی شوی مالي مرستې په معين وخت کې د کارولو په موخه د لاسرسنې وړ ګرځي.

ددغه مالي مرستو اصلي موخې داسی بريښي چې د يو مجموعي وجهي صندوق له لاری تمويل شي، دغه مجموعي وجهي صندوق به د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنيزو ظرفيتونو د لوړتيا پروژې لخوا چې د ټاکنو خپلواک کميسيون ته به په مرسته رسولو کې ځانګړې مرجع وي، اداره کيږي. دغه وجهي صندوق به د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنو اړوند يو شمير نورو فعاليتونو ته مالي مرسته چمتو کړي. د تعهد شوي دوه اړخيزه تمويل زياتره

[19] ددغه پاڼې د ليکلو پرمهال (د ۱۳۸۷م کال د لرم په مياشت کې) د ټولټاکنو د فعاليتونو د پلانولو وړانديز شوی ؤ چې په سملاسي توګه پيل شي.

برخه به ددغه پروګرام له لارې تامین شي، او دا تمه کېږي چې دغه میکانیزم به د ښکیلو سازمانونو په منځکې همغږۍ ته وده ورکړي. د نورو سازمانونو په منځکې ښکیل نړیوال ناحکومتي فعالین عبارت دي له ملي دموکراتیک انستیتوت، نړیواله جمهوري غوښتونکې ټولنه، د اسیا بنیاد او د ټاکنیزو سیستمونو لپاره نړیوال سازمان.

### د همغږۍ موضوعګانې

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د راتلونکې لپاره د حقوقي او ټاکنیزو ظرفیتونو د لوړتیا پروژې د ګټو څخه یوه دا ده چې، دغه پروژه د نړیوالې مرستې د تنظیم لپاره یو مرکزي میکانیزم چمتو کوي. د ښکیلو فعالینو د شمیر په پام کې نیولو سره، په هر حال، د ملي او نړیوالو فعالینو، حکومتي او ناحکومتي سازمانونو ترمنځ همغږي، او د حکومتي ارګانونو په منځکې همغږي یوه مناسبه لار رامنځته کوي. تر یوې اندازې، د ټاکنیزې پروسې بریالۍ پایلې د افغان حکومت د یو شمیر وزارتونو او سازمانونو پورې اړه لري. پداسې حالکې چې امنیتي وزارتونه او ارګانونه (لکه د ملي دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت) ښایي د ټاکنو په پروسه کې تر ټولو ډیر د لیدو وړ وي، همدارنګه یو شمیر نور وزارتونه به هم د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په هلو ځلو کې مهم ملاتړ کوونکي رولونه ولري. دغه وزارتونه عبارت دي له: د ښوونې او روزنې وزارت، د ښځو د چارو وزارت، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت، او د حج او اوقاف وزارت. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په وړاندې یوه د پاموړ ننګونه به دا وي چې ددغه وزارتونو او سازمانونو سره مناسبې تفاهمنامې ولري؛ دغه تفاهمنامې باید هغه فعالیتونه او سرچینې چې د ټاکنو پروسې د مرستی او ملاتړ لپاره اړینې دي، په واضح توګه توضیح کړي. د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي د میاشت د مرکو په ترڅکې څرګنده شوه چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ښوونې او روزنې د وزارت ترمنځ د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې د مرکزونو لپاره د ښوونځیو د کارولو په برخه کې هیڅ ډول رسمي تفاهمنامې وجود نه درلود.[20]

[20] مرکه، کابل، ۱۳۸۷ کال د غبرګولي ۲۵مه نېټه.

## III. تخنیکي پروسې

د نوم لیکنې لومړې پړاو د ۱۳۸۷ کال د تلې د میاشت په ۱۵مه نېټه پېل شو. دغه پړاو څه کم ۱۲ میاشتې مخکې لدې چې رایه ورکوونکي د رایې اچونې په موخه د رای ورکوونې مرکزونو ته ولاړ شي، پېل شوه. په همدې ترتیب، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ملاتړ کوونکي نړیوال سازمانونه خپلې هلې ځلې زیاتوي. په ځینو برخو کې، په خاصه توګه امنیتي چارې څو میاشتې د مخه جریان لري ترڅو د نوم لیکنې د پروسې لپاره چمتو اوسي. امنیتي چارې په پام کې وی چې په بنیادي توګه د اوږې د میاشتو په بهیر کې پېل شي. وړاندې برخه هغه تخنیکي پروسې خلاصه کوي چې د راتلونکي کال د ټولټاکنو لپاره باید په نږدې راتلونکي کې په غاړه واخستل شي.

### ۱) د رایه ورکوونکو نوم لیکنه

د راتلونکې ټاکنیز دوران (پړاوونو) لپاره د رایه ورکوونکو د یوې ماډرنې/عصري نوم لیکنې رامنځته کول، سره لدې چې د ۱۳۸۴ کال د افغانستان په تړون لیک کې د یو لومړیتوب په څیر منل شوې، خو بیاهم د یوې غولوونکې دندې په شان په اثبات رسیدلې.[21] د تېرو ټولټاکنو او نوم لیکنې په خلاف، د ۱۳۸۸ کال د ټولټاکنو لپاره تیاریانې به د ۱۳۸۳ کال د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې نوی کول او د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په نوي شویو کارتونو کې د یو لړ نویو امنیتي علامو

[21] د افغانستان اسلامي جمهوریت، د *افغانستان تړون لیک* (لندن: ۱۳۸۴ کال، د سلواغې میاشت).

اضافه کول په برکې ولري. د ټولټاکنې په ورځ، د رایه اچونې په محلونو کې به نه پاکیدونکي رنګ ته یو ځل بیا اړتیا وي تر څو د څوځلي رای ورکوونې څخه مخنیوی وشي. د نوم لیکنې کارتونه د تیر ټاکنیز پړاو په بهیر کې صادر شول، که څه هم چې، د رای ورکوونې صادر شوي کارتونه به په نږدې راتلونکو ټولټاکنو کې د اعتبار وړ وي.

نورې هغه موضوع ګانې چې د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې پروسه متأثره کوي، په لاندې ډول دي:

*حقوقي کاري چوکاټ* – د دغه پاڼې د لیکنې پرمهال، د ټاکنو خپلواک کمیسیون لا پدې نه پوهیده چې ایا ټولټاکنې به د یو نوي ټاکنیز قانون تر انفاذ لاندې یا د هغه ټاکنیز قانون لاندې چې په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو کې پرځای ؤ، پلې شي.



*د نوم لیکنې د تیمونو ګمارل، روزل او منسجمول* – د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید پدې قادر اوسي څو کابو ۲۳۵۰۰ کار کوونکي وګماري او په بسیا کوونکې توګه ورته روزنه ورکړي. دغه شمیر کار کوونکي اړین دي ترڅو هغه ستونزې چې د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په پروسه کې رابرڅیره شوې وې، کمې یا یې په بشپړ ډول حل کړي.

*امنیت* – د امنیتي چاپیریال د خرابیدونکي حالت په پام کې نیولو سره، د نوم لیکنې د مرکزونو د امنیت نیول به ستونزمن کار وي. پدې ترڅکې، ملي او نړیوال امنیتي ځواکونه ښکیل دي خو پوښتنې د ملي امنیتي ځواکونو (افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس) ترمنځ د اغیزمنې همغږۍ په اړه راپورته کېږي.

*د رایه ورکوونکو نفوس* – د افغانستان مساحت، جغرافیایي ویشنه او ستر کلیوال نفوس د لوژستیکي توکو د رسونې او تطبیق پړاوونه پیچلې کوي.

*د پیغامونو رسول* – د خلکو خبرول او د مدني پوهاوي پروګرامونه به ضروري وي تر څو رایه ورکوونکي خبر شي. په ځانګړې توګه، دغه پروګرامونه کولای شي نوي رایه ورکوونکي په نښه کړي، هغه کسان کومو چې خپل د رایې ورکوونې مخکیني کارتونه ورک کړي، او همدارنګه هغه وګړي چې خپل ځانونه یې د مخکینیو ټولټاکنو لپاره درج کړي ندي. د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو په ټولټاکنو کې، رسنیو د ټولټاکنو په هکله د خلکو په خبرتیا کې یو د پاموړ رول ولوبوه، او بیاهم به د رای ورکوونکو د نوم لیکنې د اوسني ټاکنیز ټول پړاو لپاره دخلکو په خبرولو کې یو مهم چینل وي.

*مالي مرستې* – د مالي مرستو پر وخت برابرول به د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ملګرو ملتونو ته یو بحراني پړاو وي څو د تهیه او تدارکاتو او همدارنګه د لوژستیکي عملیاتو پوسیله د ستونزو کچه کمه کړي.

ډیرو ځواب ورکوونکو، د نوم لیکنې راتلونکې پروسې ته د یو ارزښتمن اټکل شوي معیار په څیر کاته، د کوم پوسیله چې په راتلونکو ټولټاکنو کې د خلکو د ګډون او د امنیتي حالت په پامکې نیولو سره د ټولټاکنو د ترسره کولو اندازه اخستلی شي.

## ۲) د کاندید دقیقه څېړنه

د بحث او استدلال له پلوه، د افغانانو په منځکې د مشاجرې او مناقشې ډکه تر ټولو ستره موضوع چې د ټاکنیزې پروسې

باورتیا او مشروعیت متأثره کوي، د کاندید دقیقه څېړنه ده. د ۱۳۸۳ کال د کاندیدانو د نامزدۍ پروسې په بهیر کې، **۵۵۷** کاندیدانو (د ولسي جرګې او ولایتي شورا د ټولو **۲۱۰۲** کاندیدانو څخه) د خپلو نامزدیو په مستندولو کې ستونزې درلودې، چې ۱۱ یې د وسله والو ګروپونو سره د غیر قانوني اړیکو د درلودلو له کبله د نامزدۍ له حق څخه بې برخې شوو. د ټاکنو په پرلپسې موده کې په مجموعي توګه، **۲۳** کاندیدان د همدغه دلیل پربنسټ د نامزدۍ له حق څخه بې برخې شول.[۲۲]

کتونکو او تحلیل کوونکو دا موضوع په ګوته کړه چې، د **۱۳۸۳** کال په ټولټاکنو کې د پاموړ شمیر بریالي کاندیدان د جګړه مارو، قومندانانو، یا د نشه یي توکو د قاچاق وړونکو په څیر وپیژندل شول. په څو *اړخیزه ولسي جرګه (د کتاب نوم دی چې اندریو وایلډر لیکلې)*، اندریو وایلدر د دغه راز کاندیدانو په ارزونه کې د ښېلاښېلو سرچینو په اړه خپلې نظریې داسې څرګندوي چې ولسي جرګې ته نوي ټاکل شوي کاندیدان څه ناڅه د **۴۰** څخه تر **۸۰** په سلو کې دغه راز کاندیدان تشکیلوي.[۲۳]

د **۱۳۸۳** کال د کاندیدانو د نامزدۍ پروسه، د کومې چې دقیقه څېړنه یوه برخه وه، د یو شمیر ستونزو سره مخ وه. د کاندیدانو د دقیقې څېړنې لومړنۍ نیته: د لنډ ټاکنیز مهال ویش له کبله، د کاندیدانو دقیقه څېړنه په یو اندازه لنډه موده کې ترسره شوه او همدارنګه دغه پروسه په ښه توګه تشریح او درک شوې هم نه وه. دوهمه ستونزه د ظرفیت موضوع وه. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د کاندیدانو د نامزدۍ د پروسې څخه لنډه موده مخکې په قانوني توګه رامنځته شو، او اړیاسل شو څو د پرسونل یا سرچینو په برخه کې د کافي چمتوالي څخه پرته ننګونکې پروسه پغاړه واخلي. دریمه ستونزه روڼوالي ته مربوطیده: د کاندیدانو د دقیقې څېړنې په اړه د شکایتونو د اوریدو کمیسیون یوائې د خلع سلاح او ملکي کولو د بیلې ګډې دارالانشأ کمیسیون په فرمان اتکا کوله. د شکایتونو د اوریدو کمیسیون (د خلکو ټولنه) دا فرصت په لاس نه درلود چې د لومړي لاس یا اصلي شواهد و ارزوي. دغه موضوع په ځانګړېتوګه د پروسې روڼوالی متأثره کاوه، ځکه چې هغه معلومات چې د خلع سلاح او ملکي کولو د بیلې ګډې دارالانشأ کمیسیون لخوا وړاندې کېدل، په عام شکل د لاسرسي وړ نه ؤ.[۲۴] سربیره پر دې، د ټولنې غړو د دغه پروسې د ښېلاښېلو اړخونو په اړه ګمان کاوه چې ښایي د حکومت د ښېلاښېلو وزارتونو ترمنځ معاملې شوې وي تر څو خپل ملاتړ کوونکي او خبر رسوونکي چې د ټولټاکنو لپاره کاندیدۍ ته ولاړ وو، خوندي وساتي. لکه څنګه چې لاندې څرګندونې ثابتوي چې، دا روڼوالی د پروسې نیګرتیاوې ګڼل کېدې چې د کاندیدانو د نامزدۍ د پروسې مشروعیت یې متأثره کاوه:

*نړیواله ټولنه باید د کاندیدانو د دقیقې څېړنې پروسې مشرې پغاړه واخلي ځکه چې خلک په افغاني ارګانونو باندې باور نه لري. نوموړي ارګانونه ډېر کمزوري، له فساد څخه ډک او ډېر لیوال دی ته دي چې د کاندیدانو سره هغه معاملې وکړي چې د هغوی په ګټه وي نه د* افغانستان د خلکو.[۲۵]

- د *ولایتي* شورا غړې

*د ناقانونه وسله والو ډلو منحلول او بې وسلې کول، د نظامي منصبدارانو او سرتېرو ترخیصول او عادي ژوند ته د هغوی بیرته ګرځول ګټور تمام نه شول او په ټولټاکنو به اغیزه ولري.*[۲۶]

- د ولسي جرګې غړی

*د کاندیدانو دقیقه څېړنه په تیر ځل کې یوه ډېره سیاسي کوونکې پروسه وه...لدې کبله د راتلونکو ټولټاکنو لپاره په*

---

[۲۲] د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، "وروستي رپوټ" (کابل: د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون، ۱۳۸۴ کال، د کب میاشت)، ۲۰.

[۲۳] اندریو وایلډر، *ویشل شوی ولسي جرګه*، ۱۴-۱۵.

[۲۴] د خلع سلاح او ملکي کولو د ګډې دارالانشأ کمیسیون غړیتوب چې د کورنیو چارو وزارت، د ملي دفاع وزارت، د ملي امنیت ریاست، نړیوال مرستندویه امنیتي ځواکونه (ISAF)، ائتلافي ځواکونه او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه هیأت پکې شامل وو.

[۲۵] مرکه، هرات، ۱۳۸۷ کال، د چنګاښ ۱ نیټه.

[۲۶] مرکه، کابل، ۱۳۸۷ کال، د چنګاښ ۴مه نیټه.

*بشپړه توګه د یوې مختلفې تګلارې اړتیا لیدل کېږي، په ځانګړېتوګه د کاندیدانو د دقیقې ځېرنې لپاره. ددغه تګلارې یو اړخ باید د خلکو په پوهاوي باندې تمرکز وکړي، تر څو هغوی پوه شي چې څنګه خپل د خوښې او اعتماد وړ کس ته رایه ورکړي*[27]

- یو نړیوال کارکوونکی

دا په تیرو ټولټاکنو کې د روښوالي نشتوالی په ګوته کوي چې د راتلونکو ټولټاکنو لپاره یوه جدي ننګونه راپورته کوي. که څه هم، اوسمهال، یو شمیر نوښتونه چې موخه یې د کاندید د دقیقې ځېرنې د پروسې غښتلې کول دي، تر کار لاندې دي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه هیأت (UNAMA) د کاندید د دقیقې ځېرنې او تصدیق لپاره د کاري ګروپونو مشري کوي. ددغه نوښتونو یوه اساسي موخه دا ده چې د کاندید د دقیقې ځېرنې پروسه د کاندید د نامزدۍ له پروسې څخه جلا کړي. د ټاکنو نوی قانون چې اوسمهال په ولسي جرګه کې تر بحث لاندې دی، د کاندید د دقیقې ځېرنې یوه نوې پروسه وړاندې کوي خو د مشخصو کړنلارو په اړه لږ تفصیل له ځان سره لري.

لکه څنګه چې مخکینې اقتباسونه ښیي، د کاندید د دقیقې ځېرنې پروسه ښایي د ټاکنو د راتلونکې پروسې د باورتیا او مشروعیت په څرګندولو کې د ډیرو افغانانو لپاره یو لومړېتوب اوسي. هغه پوښتنه چې دلته راپورته کېږي، دا ده چې د هغه کاندیدانو سره باید څنګه چلند وشي چې په فساد، د نشه یي توکو په قاچاق، د خلکو په تیښتونه کې لاس لري یا د بشري حقونو څخه په سر غړونه کې په اثبات رسیدلي. ددغه موضوع د جدیت او همدارنګه د هغه سلا مشورې او همغږۍ په پام کې نیولو سره چې د دقیقې پروسې د ډیرو تطبیق کوونکو په منځکې به ترسره شي، د یوې عملي او څرګندې پروسې لپاره د راتلونکو ټولټاکنو څخه دمخه، وخت به یو مهم او حیاتي موضوع وي.

[27] مرکه، هرات، د ۱۳۸۷م کال د چنګاښ ۱ نېټه

## ۳) د کمپاین تمویل

د ۱۳۸۲ کال او هم د ۱۳۸۳ کال ټولټاکنو د کمپاین د تمویل مقررات درلودل، هرڅو که دغه مقررات یواځې څو ورځې مخکې لدی چې د ۱۳۸۲ کال د ولسمشرۍ رسمي کمپاین پېل شي، تسوید شول. دغه مسألې د کاندیدانو لپاره هوکړه ستونزمنه کړه. د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په بهیر کې د کمپاین تمویل د رپوټ ورکونې دستورالعملونه د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر/د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشأ لخوا صادر شول، خو د ټاکنو په بهیر یا د هغې څخه وروسته موده کې هیڅ ډول سیستماتیکه ارزونه ترسره نه شوه تر څو دا موضوع تشخیص کړي چې ایا کاندیدانو د یادو شویو مقرراتو سره هوکړه کړې وه که نه.

د نشه یي توکو اړوند مالي مرستې په افغاني اقتصاد باندې نفوذ کوونکې اغیزه لري، او د ځینو کاندیدانو په اړه یو شمیر ادعاوې هم وجود لري چې د خپلو کمپاینونو لپاره یې بهرنۍ مرستې او ملاتړ ترلاسه کاوه. په همدې ترتیب، د هغو پیسو منظم شمیرل او رپوټ ورکول چې د ټاکنیز کمپاین په موخه کارول کیدې، ددغه مطالعې لپاره د مطالعه شویو ځواب ورکوونکولخوا یوه د پاموړ ستونزې په څېر تشخیص شوه:

*که چیرې دغه موضوع له اوسه په نښه نشي، د ۱۳۸۸ کال په ټولټاکنو کې د نامشروع پیسو استعمال به جاري وي*[28]

- د افغان حکومت یو لوړ پوړې چارواکی

*ډیر زیات رشوت او فساد لا روان دی ... او کاندیدان په خپلو کمپاینونو باندې ډیرې پیسې لګوي او هغوی غواړي چې خپل ټاکل شوي مقامونه د پیسو د ترلاسه کولو په موخه وکاروي*[29]

- د بشري حقونو د سازمان یو فعال غړی

د ۱۳۸۶ کال د کب په میاشت کې، د افغانستان ازاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد (FEFA) د *سیاسي مالي سرچینو/شتمنۍ د*

[28] مرکه، کابل، د ۲۰۰۸ کال د جون ۷مه نېټه

[29] مرکه، هرات، د ۲۰۰۸ کال د جون ۲۱مه نېټه

*رونیوالي* تر نامه لاندې یو رپوټ خپور کړ چې په هیواد کې د سیاسي او ټاکنیز تمویل موضوع ازمایي.[30] دغه رپوټ د ټاکنیز تمویل اړوند غښتلي وړاندیزونه وړاندې کوي. دغو وړاندیزونو د ټاکنو په خپلواک *کمیسیون* کې د یوې جلا اداری د تاسیس غوښتنه کوله څو د کاندیدانو مالي چارې وڅیړي، و ارزوي، اداره یې کړي او په اړه یې رپوټ چمتو کړي؛ او په پراخه کچه د عامه پوهاوي د خبرتیا پروګرامونه پیغاړه واخلي، نو وګړي به د څارنې د پروسې او د خپلو حقونو او مسؤلیتونو په اړه پوه شي تر څو د اړونده ممکنه تیریو په وړاندې خپل شکایتونه او نیوکې درج کړي. په ښکاره توګه، د ټاکنیز کمپاین تمویل یوه داسې ساحه ده چې د پامور کار ته اړتیا لري چې باید د نړیوالې ټولنې په مرسته او ملاتړ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا پیغاړه واخستل شي.

د ځانګړې اندیښنې یوه ساحه هغه درک دی چې کاندیدان پدې قادر دي چې له حکومتي سرچینو څخه د خپلو کمپاینونو د ملاتړ په موخه استفاده وکړي. د ۱۳۸۲ لمریز کال د ټولټاکنو په بهیر کې، د حکومتي سرچینو د استعمالولو ډیرې بیلګې او ادعاوې موجودې وې چې د ځانګړو کاندیدانو د کمپاینونو سره د مرستې لپاره کارول کیدې. هر څو که د ولسمشر فرمان د ټولټاکنو په کمپاینونو کې دولتي چارواکي د خپلو دفترونو او حکومتي سرچینو له کارولو څخه منع کړي وو، خو د ولسمشر دغه فرمان داسې ښکاریدو چې لږه اغیزه ولري. د مرکزي حکومت د کمزوري صلاحیت شتون او له کابل څخه بهر د حکومتي جوړښتونو په پام کې نیولو سره، چې د عامه ارګانونو په منځکې د درک شوي فساد سره تړلي دي، ډیر هغه خلک چې مرکې ورسره وشوې داسې وړاند وینه یې وکړه چې د راتلونکې ټولټاکنې د کمپاین په ترڅکې د حکومتي سرچینو کارول به یوه جدي موضوع وي.

کله چې پوښتنه وشوه چې حکومتي سرچینې د ټاکنو په موخه څه ډول کارول کیدې، ځواب ویونکو مکرراً د محلي حکومت لپاره د خپلواک ریاست (IDLG) فعالیتونه په ګوته کول. دغه خپلواک ریاست پدې تورن ؤ چې د ولسمشر د بیا ټاکنې د اقداماتو په اداره کولو کې کارول کیده. د ریاست په اړه منتقدینو د شک او تردید څخه پرته دغه موضوع ته اشاره کوله چې د محلي حکومت لپاره خپلواک کمیسیون په غیررسمي توګه همنظري ملکي مامورین په کار ګماري چې لدې طریقه هغوی کولی شي د ښاغلي کرزی د بیا ټاکنې کوښښونه حمایه کړي. همدارنګه یوه ځواب ویونکي دغه مسأله تو کمي اړیکو ته هم اطلاق کړه:

*دغه خپلواک ریاست له قومي او ژبنیزو موضوع ګانو څخه کار اخلي تر څو د کرزي د بیا ټاکنې د کمپاین څخه ملاتړ وکړي.*[31]

- په هرات کې یو فعال سیاسي غړی

کله چې حکومتي چارواکو ته د دغه خپلواک ریاست د غیررسمي فعالیتونو په هکله هیڅ ډول رسمي شکایتونه وړاندې شوي نوي، نو دغه نیوکې د راتلونکې ټاکنیزې پروسې اعتماد او مشروعیت تهدیدوي. دا موضوع د ډیرو څرګندو دستورونو د رامنځته کولو په اړتیا، او همدارنګه د هغه ملکي چارواکو د دندو او مسؤلیتونو په اړه چې په دغه پروسه کې لاس لري، د څارنې او تعمیلونې په یوې اغیزمنې پروسې تاکید کوي.

## ۴) د خلکو پوهه زیاتول

د مرکو په ترڅکې په ډاګه شوه چې یوه تر ټولو زیاته د فشار لاندې ننګونه چې راتلونکې ټولټاکنې به ورسره مخ وي، د افغانستان د خلکو لپاره د ټاکنیزې پروسې په هکله د مدني پوهاوي د ګړنده اوږد مهالي پروګرامونو تنظیمول ؤ. په هرات کې د ښځو د چارو یوې فعاله غړې استدلال کاوه چې:

*د دموکراسۍ او ټولټاکنو په اړه د افغانانو پوهه ډیره کمه ده او دوی اړتیا لري چې پدې هکله خپله پوهه او خبرتیا زیاته او غښتلې کړي. افغانان پدې نه پوهیږي چې هغوی باید په هیواد*

[30] د افغانستان د ازادو او عادلانه ټولټاکنو بنسټ، د *سیاسي شتمنۍ رونیوالي* (کابل: د افغانستان د ازادو او عادلانه ټولټاکنو بنسټ، د ۱۳۸۷م کال د وري میاشت)، ۳۴-۳۷.

[31] مرکه، هرات، د ۱۳۸۷م کال د چنګاښ ۲مه نېټه.

*کې د دموکراسۍ د پراختیا لپاره کار وکړي... افغانان فکر کوي چې د دموکراسۍ کلمه د غربي هیوادونو څخه زمونږ هیواد ته راوستل شوې*[۳۲]

د ولایتي شورا یو غړي په هغه اړتیا زیات تاکید کاوه چې په اوږد مهالې ستراتیژۍ تمرکز کوي، او ویل یې چې:

*دموکراسي یو پوست کارد ندی چې افغانستان ته ولېږل شي*[۳۳]



نورو ځواب ویونکو یادګیرنه وکړه چې د مدني پوهاوي هغه پروګرامونه چې په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو کې په لاره اچول شوي وو، یواځې سمبولیک او بې بنسټه بڼې یې درلودې، او بله خبره دا چې ډیر وخت ته به اړتیا وي چې د مدني پوهاوي دغه کوښښونو ته تر راتلونکو ټولټاکنو پورې، وده او پراختیا ورکړل شي.[۳۴]

دا ځل د مدني پوهاوي د پروګرامونو موخه به د تیر ځل په پرتله د ټاکنو د پروسې په هکله د رایه ورکوونکو ښه خبرتیا او عادلانه پوهول وي. د هیلې سره سم، دا نوبت به یواځې د اساسي مفاهیمو او فعالیتونو په اړه د خلکو ښه پوهاوي ته اړوند نه وي، بلکه همدارنګه رایه ورکوونکو ته به واک ورکړي چې د دموکراسي کولو په پروسه کې ډیره ونډه واخلي. که څه هم چې دغه پاڼه له وخت څخه مخکې موضوع ګڼل تر بحث لاندې نیسي، رایه ورکوونکو ته د پروسې په اړه د ښه پوهې چمتو کول به مرسته وکړي څو په هغه نا امیده کوونکو تمه او هیلو کې کموالې رامنځته کړي چې رایه ورکوونکي یې او سمهال له خپلو ټاکل شویو استازو او حکومت څخه لري.

د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په تعقیب، د ټاکنې د څارنې پلاوي هم د اوږد مهالې مدني پوهاوي د پروګرامونو تجویز کاوه، چې په ټاکنیزې پروسې تمرکز کوي. له بده مرغه، لدی کبله چې ددی مقصد لپاره هیڅ ډول مالي مرسته نه وه تخصیص شوی، که چیرې د لنډمهالې اداری پرمهال کوم کار ترسره شوی دی، علت یې د نه بسیاکوونکې بودجې تخصیص دی. په هر حال، اوس ددغه راز پروګرامونو لپاره مالي مرسته به د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ملاتړ کوونکو نړیوالو سازمانونو (لکه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د اداری د راتلونکې لپاره دحقوقي اوټاکنیزو ظرفیتونو د لوړتیا پروژه او د ټاکنیزو سیستمونو لپاره نړیوال سازمان) سره یوځای چې دغه پروګرامونه تطبیقوي، له بسپنه ورکوونکې ټولنې څخه تمویل شي. د تولټاکنو سره چې له یو کال څخه کمه موده ورته پاتې ده، ددغه ډول پروګرامونو لپاره بیړنۍ اړتیا لیدل کیږي چې سمدلاسه په لاره واچول شي. دغه پروګرامونه هرڅومره چې ژر پیل شي، په همهغه اندازه به د راتلونکو ټولټاکنو څخه د مخه د ګڼ شمیر رایه ورکوونکو پراخه ممکنه برخه اخستنه یقیني شکل غوره کړي.

دغه برخه هغه د پامور تخنیکي پروسه خلاصه کوي چې د ټاکنو د تیاري لپاره به په لاره واچول شي، او د اړوند موضوع ګانو څخه ځینې غوره موضوع ګانې یې تشخیص کړي چې مخ په وړاندی پرتی دي. همدارنګه دا هم یوه مهمه موضوع ده چې تخنیکي پروسو ته د افغانستان په شرایطي چاپیریال کې ځای ورکړل شي.

---

[۳۲] مرکه، هرات، د ۱۳۸۷م کال، د چنګاښ ۲مه نېټه

[۳۳] مرکه، هرات، د ۱۳۸۷م کال، د چنګاښ ۱ نېټه

[۳۴] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال، د غبرګولي ۲۷مه نېټه

# IV. په شرایطو پورې اړوند موضوع ګانې

په هر راز دموکراسۍ کې د ټولټاکنو تنظیمول ډېرې مهال د ګواښونو او ننګونو د یوې بې ساري ټولګۍ سره د مبارزې په معنا دی؛ په یوه جګړه ځپلي هیواد لکه افغانستان کې، د دغه راز ننګونو پراخوالی او پیچلتیا کېدای شي ستونزمنه او ویروونکې اوسي. دوه بنیادي شرایطي موضوع ګانې چې ټولټاکنې به د راتلونکو دوه کلونو په اوږدو کې په ژوره توګه متأثره کړي، عبارت له ظرفیت او امنیت څخه دي.

## ۱) ظرفیت

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره، د ټاکنو په پروسې باندې د برلاسه کېدو په لړ کې یوه تر ټولو نږدې ننګونه به د غیر فعال ارګان څخه په بشپړ ډول فعال او د هیواد په هرې ولسوالۍ کې د حضور لرلو سره په عملیاتي چارو متمرکز سازمان ته اوښتون وي. نوموړی کمیسیون چې د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په پروسه کې ټولې چارې یوازې پرمخ بوځي، دا پدې مانا ده چې د ۲۳۵۰۰ څخه زیات خلک په کار ګمارل او هغوی ته روزنه ورکول تر څو د نوم لیکنې کابو ۸۰۰ مرکزونه تشکیل کړي، د تهیه او تدارکاتو او لوژستیکي توکو اداره کول چې پروسه حمایه کړي، او د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې تمرین د ارزولو په موخه د مالي او اداري سیستمونو خوندي ساتلو یوازې د ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات لګښت درلود.

یو شمیر لوړ پوړي چارواکي چې د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو پرمهال پرځای وو، د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو څخه وروسته نورو دفترونو ته ولاړل. د کارپوهانو دغه له لاسه ورکونې اوسنې حالت مغلق کړې. یو شمېر محقیقینو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اوسني محدود ظرفیت او له مخکې څخه د نااميدۍ په بیانولو باندې نیوکې وکړې. یو افغان د ټاکنو پروسې ته اړوند نااميدي ددې موضوع په پوښتلو سره په ډاګه کړه چې:

*نړیواله ټولنه په لنډمهاله دوره کې چیرته وه او د ظرفیت د لوړولو لپاره ولې ډېر څه ونشول؟*[35]

د پرسونل په ظرفیت کې ننګونې په محلي کچه هم موجودې دي.

[35] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال، د غبرګولي ۱۸مه نېټه

په کال ۱۳۸۳ کې، ۵۴۰ نړیوالو کارکوونکو د ټولټاکنو د ماموریت لپاره کار کاوه: د یاد شویو غړو شمیر چې او سمهال په هیواد کې حضور لري یوازې ۱۳۰ تنو ته ټیټ شوی. په هرحال، نړیوال مشاورین چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د چارواکو سره کار کوي ممکن پدې وتوانیږي چې په کابل کې د تجربې د کموالي سره تر یوې اندازې مرسته وکړي. لدې وروسته ستره ننګونه به د ولایت او ولسوالۍ په کچه د ټاکنیزو چارواکو له مهمې ډلې سره کار کول وي.

د ټولټاکنو د تنظیمولو لپاره د مامورینو په کار ګمارل او روزل چې له هغوی څخه به دا تمه کېږي چې خپلې دندې په ناپایېلې او شفاف ډول ترسره کړي، له بده مرغه، دا کار ناشونی ښکاري. په ټول هیواد کې د ګمارنې د غیر عادلانه حالت له کبله، ډېر خلک ټاکنیزې پروسې ته د عاید د لاسته راوړلو د فرصت په سترګه ګوري، خو د هغوی شخصي اقتصادي حالت هم هغوی مجبوروي او اړباسي تر څو په رشوت اخستلو لاس پورې کړي. یو ځواب ورکوونکي دغه حالت په لنډه توګه داسې توضیح کړ چې، د ټاکنو مامورین باید د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو په پرتله ښه وروزل شي او د تیر ځل په پام کې نیولو سره چې ډېر مقدار پیسې د ټاکنو د چارواکو ترمنځ تبادله شوی، په ساده ډول د پیسو پو سیله زیات تشویق نه شي.[36]

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون چارواکو د ټولټاکنې د کار کوونکو د ګمارنې او روزنې د ستونزې او ننګونې په اړه اعتراف وکړ، خو د امنیتي حالت د خرابیدو او ټولټاکنو ته د خورا لږ وخت د پاتې کیدو له امله، دوی ډېره محدوده وړتیا لري څو له دغه ستونزې څخه مخنیوی وکړي. څرنګه چې دا د راتلونکو ټولټاکنو په اعتماد او مشروعیت باندې په منفي ډول اغیزه کولای شي، نو د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید خپل هر اړخیزه کوښښونه وکړي تر څو مناسبه ګمارنه او روزنه ډاډمنه کړي.

## ۲) امنیت

د تیرو ۳۰ کلونو په زیاته موده کې، تیري او تجاوز د افغاني

[36] مرکه، هرات، ۱۳۸۷ کال، د چنګاښ ۲مه نېټه

ټولنې کابو هريو اړخ ته سرايت کړې او بې له توپيره يې د افغانستان د وګړو په ژوند باندې اغيزه کړې. د ټولټاکنو لومړې پړاو د زور زياتي له لارې په ځينو مشخصو ولايتونو کې د مصيبتونو څخه ډک ؤ، او د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په کمپاين کې شپږو کانديدانو خپل ژوند له لاسه ورکړ. متعدده ځان مرګي بريدونو هم د ټاکنو چارواکي او همدارنګه د عامه پوهاوی کارکوونکي په نښه کړل. محلي وسله والو مليشه وو ډلو او د محلي حکومت چارواکو چې له ځانګړو کانديدانو څخه يې ملاتړ کاوه ددې لامل وګرځېدل څو ددغو مقامونو لپاره د نورو سيالي کوونکو په وړاندې د تهديد او تيريو بې ځايه ادعاوې وکړي. دغه راز د افغاني او نړيوالو نظامي ځواکونو د محدود حضور له کبله، د رايه ورکوونکو د تهديد او د يو شمير سيمو مثالونه هم وجود درلود، چيرته چې کانديدانو نشو کولای په ازاده توګه کمپاين وکړي.[37]

د تيرو دريو کلونو په بهير کې، امنيتي حالت په ناڅاپي ډول بدتر شوی دی.[38] د تېرې، تجاوز او ناامنۍ کچه په پرلپسې توګه زياته شوی، په تيره بيا د هيواد په سهيلي، سهيل ختيځو او ختيځو زونونو کې. سره لدې چې جنګي عمليات زياتره دغو سيمو ته محدود دي، جګړه په جغرافيايي ډول پراختيا مومي او ملکي وګړي په زياتيدونکي توګه په جګړه کې رانښکيلېږي. ډير ځواب ويونکي، د بدتريدونکي امنيتي حالت ته اشاره کوي، او پدی اند دي چې دغه بدتريدونکی امنيتي حالت کولای شي هغه ټولټاکنې چې په راتلونکي کال کې په لاره اچول کېږي، له خطر سره مخ کړي.

د مرکو په بهير کې، د راتلونکو ټولټاکنو لپاره امنيت د اساسي ننګونې په څير ځرګندیده. په لومړي سر کې، ځواب ويونکو په امنيتي حالت په عمومي شکل تر بحث لاندې نيوه چې په زياته اندازه د طالبانو او د نړيوالو نظامي ځواکونو په مرسته او ملاتړ د افغان امنيتي ځواکونو (افغان ملي اردو او افغان ملي پوليس)[39] ترمنځ روانه جګړه يې په ګوته کوله. د ننګونې دوهم بعد(اړخ) په جرمي فعاليتونو کې زياتوالي ته راجع کيده چې ګمان کيده د محلي جنګ سالارانو، قاچاق وړونکو، قومندانانو او غيرقانوني وسله والو ډلو د زياتيدونکي نفوذ له امله رامنځته شوی وي. ددغو ډلو زياتره برخه چې پدغه وروستيو کې منځته راغلی، د سيمې او ولسوالۍ په کچه عمل کوي، او همدارنګه ځينې يې د حکومتي چارواکو سره په اړيکه لرلو تورن دي. ځواب ويونکي په جرمي فعاليت کې زياتوالی داسې ارزوي چې بنايي د ټولټاکنې په راتلونکي پروسې باندې په نامتناسبه اندازه اغيزه ولري:

*يو شمير ډلې او غير قانوني ګوندونه موجود دي چې او سمهال فعال دي او د بې ثباتۍ او ناامنۍ څخه په نيغه توګه ګټه اخلي. دغه ډلې ټيپلې د بې ثباتۍ او ناامنۍ څخه په سياسي او اقتصادي ډول ګټه اخلي. دوی او س د ټولټاکنو څخه وړاندې، د بې ثباتۍ يوه سنجيده ستراتيژي پلې کوي، ځکه چې دوی به دغه ستراتيژۍ په ټاکنيزې پروسې کې د خپل قدرت د غښتلي کولو په موخه وکاروي. دا خلک د ناامنۍ سره لوی شوي – دا ټول هغه څه دي چې دوی پرې پوهيږي – او همدارنګه دوی په هيڅ بل ډول چاپيريال کې کار نشي کولای.*[40]

- په هرات کې يو ټاکل شوی استازی

*قومندانان او سمهال واک او قدرت لري او له همدی کبله د ټولټاکنو باورتيا ، امنيت او روڼوالي به له ستونزو څخه ډک وي.*[41]

- د مدني ټولنې يو فعال غړی

بدتريدونکی امنيتي حالت بالقوه پټ قدرت لري چې په يو شمير بېلابېلو لارو کې يې ټاکنيز چاپيريال متأثره کړي، دغه لارې عبارت دي له:

[37] د نړيوالو چارو لپاره ملي دموکراتيک سازمان، *په افغانستان کې د **۱۳۸۳** کال د سپتمبر په مياشت کې د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټولټاکنې* (کابل: ملي دموکراتيک سازمان، **۱۳۸۳** کال)، ۶-۷.

[38] د ۱۳۸۷م کال د زمري د مياشتی د لومړۍ نېټې بيانيې ته مراجعه وکړئ چې په افغانستان کې د ملکي وګړو د حفاظت په اړه د اکبر (د افغانانو لپاره د مرستو د همغږۍ اداره) لخوا چمتو شوی. همدارنګه د ۱۳۸۷ کال، د زمري د مياشتی ۲۳مه نېټه د نړيوالی ژغورنې د کمېټې د څلورو کارکوونکو اوسنۍ وژنې ته هم رجعت وکړئ.

[39] ۱۳۸۷ کال د وري له مياشتی څخه د افغان ملي پوځ شمېر کابو ۵۰۰۰۰ تنو ته او د افغان ملي پوليسو شمېر ۷۶۰۰۰ تنو ته ورسيد. سرچينه: د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (ناتو)، "په افغانستان کې پرمختګ،" د بخارست جلسه، د ۱۳۸۷ کال، د غبرګولي د مياشت ۱۳-۱۵.

[40] مرکه، هرات، ۱۳۸۷ کال، د چنګاښ لومړۍ نېټه.

[41] مرکه، هرات، د ۲۰۰۸ کال د جون ۲۲مه نېټه.

### *له خپلواک او ازادو کمپاينونو څخه مخنيوی کول*

د افغان ملي پوليسو د موجوديت کموالی ښايي کانديدان اړباسي چې د نامزدۍ د اسنادو يا د کمپاين په بهير کې د خونديتوب لپاره اضافي فيسونه (د زور او اړ ايستلو له کبله) تاديه کړي. دغه راز ځينې کانديدان کولای شي چې له محلي قومندانانو او حکومتي ځواکونو څخه استفاده وکړي ترڅو د سيمې خلک جبراً د خپلې کانديدۍ څخه د ملاتړ په موخه اړ باسي.

### *طرهګرۍ او بغاوت ته لاربرابرول*

نړيوال نظامي ځواکونه او افغان امنيتي ځواکونه اوسمهال د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې او د ټولټاکنې د ورځې د فعاليتونو لپاره د امنيتي کړنلارو په رامنځته کولو بوخت دي. که څه هم، دوی ښايي عملياتي سرچينې ونلري چې د کمپاين د مودې په اوږدو کې يو شان خوندي چاپېريال تأمين کړي. د امنيتي پرسونل کموالی کولای شي قومندانانو او مليشه ډلو ته دا فرصت برابر کړي چې امنيتي حالت تهديد کړي، په ځانګړېتوګه په محلي کچه.

### *د ټولټاکنو د ملاتړ پروګرامونو څخه مخنيوی کول*

يو بې ثباته امنيتي چاپېريال او په زور زياتي کې زياتوالی به په ناڅاپي ډول د کورنيو او نړيوالو سازمانونو په وړتيا باندې بده اغېزه وکړي ترڅو د ټولټاکنو اړين ملاتړي پروګرامونه تطبيق کړي، لکه مدني پوهاوی او د عامې خبرتيا کمپاينونه. دغه چاپېريال به د پرسونل د ګمارنې او روزنې پروګرام متأثره کړي؛ د اټکل شويو خلکو لپاره د پروګرامونو د تسويدونې کيفيت، موثرتيا او پوښښ؛ او همدارنګه د پروګرام د تطبيق مهال ويش. د امنيت د لګښتونو لوړول به د پلان شويو فعاليتونو لپاره مالي مرستې کمې کړي.

### *د ټولټاکنې څارنه او رپوټ ورکونه محدودول*

د ټولټاکنې د څارنې کورنيو او نړيوالو پلاوو وړتيا به د امنيتي حالت له کبله محدود کړای شي ترڅو په ټول هيواد کې د ټاکنيزې پروسې څخه څارنه وکړي او د ټاکنيزې پروسې په اړه رپوټ وړاندې کړي. د امنيتي انديښنو له امله چې د خوځخت په وړاندې خنډونه رامنځته کوي، کولای شي د پرمختګ او ارزونې پلانونه تر اغېزې لاندې راولي. د هغوی د کتنو او رپوټ ورکونې اغيزمنتيا به د مشورې او مصلحت له مخې وړاندې ځي، او همدارنګه د هغوی وړتيا چې د ټاکنيزې پروسې له اعتماد او مشروعيت څخه په دقيقه توګه ارزونه ده، هم به په همدې شکل مخکې ځي.

### *د قوميت موضوع*

د افغانانو د ګڼ شمير قومي ترکيب او سياسي، ټولنيز او اقتصادي انديښنو ته په پامکې نيولو سره چې له کلونو راهيسې ددغو ډلو په منځکې شتون لري، دا جالبه نه وه چې قومي سياست يو بل فکتور ؤ چې په مرکو کې را برڅيره شو.[42] ځواب ويونکو د قوميت موضوع ته په تېرې، تجاوز او طرهګرۍ کې زياتوالي سره د مرسته کولو په څېر کاته، چې په هيواد کې هم امنيتي او هم سياسي چاپېريال متأثره کوي.

*په هيواد کې د شمال/سهيل ترمنځ خلا د ودې په حالت کې ده، همدغه شان د قومونو ترمنځ جګړې کېږي...او د شمالي ټلوالې/ پښتنو جګړه يو وازې د رايو د ترلاسه کولو د فعاليتونو لپاره ده.*[43]

- د مدني ټولنې يو کار کوونکی

يو نړيوال کار کوونکي خبرداري ورکړ چې نړيواله ټولنه ښايي په کورني توکمي سياست کې په بې فکرۍ سره عمل کوي، چې دغه عمل زياتيدونکې انديښنې لا پيچلې کوي:

*پښتانه داسې احساس کوي چې نړيواله ټولنه او نظامي ځواکونه د هغوی پرضد دي او مغشوش دي چې دواړه (نړيواله*

---

[42] د افغانستان په نفوسو کې توکمي فرقې په لاندې ډول دي: ايمک، بلوچ، هزاره، نورستاني، پشه يي، پښتون، تاجک، تورکمن، ازبک او داسې نور. "کوچيان" يا خپلواکه ډلې؛ د دوی اکثريت پښتانه دي، خو بلوچ کوچيان او داسې نور قومونه هم شتون لري. د قومي ډلې ريښتنې فيصدي د بېلابېلو سرچينو سره چې په پراخه کچه يو له بل څخه توپير لري، مجادله کوي. په افغانستان کې د قومي سيالۍ په هکله د کونرډ سکيټر کتاب ته مراجعه وکړئ (برلين: دايتريچ ريمير، ۱۳۸۱)، ۱۲۲-۱۲۱.

[43] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال، د چنګاښ ۲مه نېټه د رايې د لاسته کولو لپاره هلې ځلې (GOTV) په عمومي صورت هغه فعاليتونو ته راجع کېږي چې د کانديدانو لخوا پغاړه اخستل کېږي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ملاتړ کوونکي يې د ټاکنې په ورځ د رای اچونې پرمهال داسې څرګند کړي چې هغه/هغې ته رايه ورکوي.

[44] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال، د غبرګولي ۲۳مه نېټه.

*ټولنه او نظامي ځواکونه) د تاجکانو پلوي کوي*[44]

د راتلونکو ټولټاکنو د پروسې په وړاندې يوه د پامور ننګونه د دې موضوع ډاډمنول دي چې، دغه ټولټاکنې د هېواد په کچه د امکان تر حده استازې ټولټاکنې دي. په عمومي صورت، په سهېلي او ختيځو ولايتونو کې د امنيت کچې ټيټې دي –دا هغه ولايتونه دي چې په زياته اندازه د پښتنو توکم تشکيلوي. د امنيتي سترو ګواښونو له کبله، دا ويره موجوده ده چې د ازادو او عادلانه وو ټولټاکنو ترسره کول به په دغه سيمو کې له حده زيات ستونزمن کار وي. دا به د پامور زياتو سرچينو ته اړتيا ولري څو په خوندي شکل د خلکو رايه ورکول ډاډمن کړي، او که چيرې د دغو سرچينو د چمتو والي په برخه کې حکومت او نړيواله ټولنه خپله جدي ژمنه په ډاګه نکړي، نو په پای کې نتيجه يې دا کيدای شي چې هغه افغانان چې پدغه سيمو کې اوسيږي، پدغه پروسه کې د رايې د اچولو له حق څخه محروم شي. دا مسأله کيدای شي د پښتنو او غير پښتنو ترمنځ موجوده توکمي اندېښنې لازياتې کړي، لکه څنګه چې په پخوانيو ټولټاکنو کې څرګنده شوی، پښتانه نړيواله ټولنه د ټولټاکنو اړوند مرستو په رسولو کې د پښتنو قومونو په خلاف په يو اړخيزه پلوي تورنوي.

د تاريخي امنيتي موضوع ګانو په پامکې نيولو سره چې د ټاکنو د پروسې بريالېتوب ننګوي، دا بايد وپوښتل شي: چې ايا ټولټاکنې د دغه راز سختو شرايطو لاندې ترسره کيدای شي؟ ددې پوښتنې ځواب د اوسنۍ نا امنۍ د انګېرل شويو يا حقيقي دليلونو پورې اړه لري. ځينې کتونکي موجوده ناامني د سياسي انګيزې په څير ارزوي، او فکر کوي چې دغه ناامني ددې لپاره طرح شوې څو د يو ځواب ويونکي او له مسؤليت لرونکي حکومتي سيستم د رامنځته کيدو خنډ وګرځي.

ځينې نور بيا په تاوتريخوالي کې زياتوالی د يو کوښښ په څير چې د ځينو فعالينو لخوا په يوې نه پيژندل شوی پروسې باندې د تاثير واردول يا خپل نفوذ نافذول دي، ارزوي، په ځانګړېتوګه په محلي کچه. ځينې انتقاد کوونکي يو لړ دليلونه وړاندې کوي او وايي چې ناامني د اوسني حکومت په وړاندې د خلکو نااميدي په ډاګه کوي، او يو ځل چې ټاکل شوي استازي تبديل شي، امنيتي حالت به ښه والی ومومي. لکه څنګه چې په افغانستان کې دموکراتيکې پروسې تر يوې اندازې په سمه توګه معرفي او پيژندل شوی ندي، نو د بدلون د رامنځته کيدو په موخه د تاوتريخوالي او تشدد لور ته ګرځيدل حيرانوونکی عمل نه بلل کېږي. اوس هم نور خلک دی خبرې ته پاملرنه کوي چې په تاوتريخوالي کې زياتوالی د بهرنيو فعالينو پوسيله چې کوښښ کوي څو د افغانستان په کورني وضعيت خپل نفوذ زيات کړي، رامنځته کېږي.

د زياتيدونکي بې ثباته امنيتي حالت لپاره چې هرڅه دليل اوسي، په هر حال، پوښتنه دا ده چې: څنګه بايد وشي چې بې ثباتي د ټاکنو پروسه ونه ځنډوي؟ د پخواني حکومت د وزير د وينا په مطابق، ددې پوښتنې ځواب د ټولو ذيصلاح ډلو په ښکېلولو کې پروت دی، ځکه چې په پروسه کې د ټولو ذيصلاح ډلو لاس لرل اړين انګيرل کېږي تر څو په ټاکنيزې پروسې باندې د خلکو اعتماد له سره ترلاسه شي.[45] ليرې ډايمنډ د دولتونو د دموکراتيک کولو په اړه په خپله تبصره کې داسې څرګندوي چې:

*بالاخره، که چيرې دموکراسي برقراره او ګټوره شي، د دموکراتيکو وګړو ټولګه بايد د دموکراسۍ په وړاندې د يوې ژورې او غځېدونکې ژمنې احساس رامنځته کړي. له همدې کبله د دموکراتيکو مدني ټولنو مشرانو د مدني پوهاوي او انسجام هڅو ته د پامور لومړېتوب ورکړې، چې دغه لومړېتوب په لوړه کچه د خلکو په ذهنونو کې د دموکراتيکو ارزښتونو، پوهې او عاداتو د روزلو په هڅه کې دی.*[46]

ډېرې مشخصې لارې په کوم کې چې دغه د دموکراتيکې پروسې پراخ ملکيت ښايي په افغانستان کې بريالی شي د مخ په وړاندې په برخه کې وړاندې شوی.

حيرانوونکې خبره دا ده چې، هيڅ يو د ځواب ويونکو څخه په اوسني حالت کې د راتلونکي کال د ټولټاکنو د ځنډولو وړانديز ونکړ؛ ډېرو يې داسې احساس کاوه چې دا لا ډېره دمخه وړاندوينه ده چې وويل شي چې ايا د امنيتي اندېښنو له امله د ټولټاکنو په لاره اچول امکان لري يا يې نلري. همدارنګه ځواب ويونکو په عمومي ډول احساس کاوه چې رايه ورکوونکي به پخپله د ټولټاکنو د ورځې څخه لږ دمخه دا پريکړه وکړي چې ايا

[45] مرکه، د پخواني حکومت وزير.

[46] ليرې ډايمنډ، د *دموکراسۍ رامنځته کول: د يو والي په لور*، (بلتيمور، ام ډي: د جانس هوپکنس د پوهنتون مطبعه، ۱۳۷۷)، ۱۷۴.

# ۷. لاسته راوړنې: د بریالیتوب توضیح

کله چې پوښتنه وشوه چې د راتلونکو ټولټاکنو د بریالیتوب بنسټ څه کیدای شي، زیاترو افغاني او نړیوالو ځواب ویوونکو په عمومي صورت داسې ځواب ورکړ چې، راتلونکې ټولټاکنې باید د اعتبار وړ، شفافې او تر ټولو مهمه دا چې مشروع اوسي:

*د ټولټاکنو په تنظیمولو کې د پراخو نیمګړتیاوو درک د اوسنۍ ولسي جرګې مشروعیت تر یوې اندازې کموي، خو که دغه نیمګړتیاوو ته د ټولټاکنو په راتلونکو پړاوونو کې پاملرنه ونشي، نو دا کیدای شي د هغو ټولټاکنو درک شوی مشروعیت د ۱۳۸۳ کال د ټولټاکنو په پرتله په ډېر قاطعیت سره تر خطر لاندې راولي.*[47]

د ۱۳۸۲ او ۱۳۸۳ کلونو د ټولټاکنو په اړه د ټولټاکنو څارنیز افغان او نړیوال ماموریت رپوټونه، د راتلونکو ټولټاکنو د سمون او ښه والي لپاره تر ۲۷۰ زیات وړاندیزونه چمتو کوي.[48] د وړاندیزونو پنځه غوره کټګورۍ چې مکرراً ذکر کېدې په لاندې ډول دي:

۱. د ټاکنو اداره

۲. ټاکنیز شکایتونه

۳. حقوقي کاري چوکاټ

۴. د ټاکنو په پروسه کې د ښځو ګډون

۵. رایه ورکول، د رایو شمیرل او د اچول شویو رایو فهرست/لړلیک جوړونه

د ټاکنې د څارنې راتلونکي پلاوي ښايي د دغه وړاندیزونو څخه ګټه واخلي تر څو د تیرو ټولټاکنو د حالاتو او پیښو تحلیل او تجزیه پېل کړي او په دې وسیله د ټاکنو راتلونکې پروسې ته ګټه ورسوي. د راتلونکو ټولټاکنو څخه دمخه، د نظریو یوه عمومي موافقه باید د دې موضوع چار چاپېره رابرخیره شي، چې په افغانستان کې د بریالۍ ټولټاکنې د پروسې بنسټ څه کیدای شي. ډېرو ځواب ویونکو داسې څرګندونه وکړه چې د پروسې لپاره یوه واضح اړتیا دا ده چې نوموړې پروسه باید د اعتبار وړ، مشروع او رښه اوسي. هرڅوکه، یاد شویو ځواب ویونکو دا موضوع مشخصه نکړه چې د دغو خبرو (د اعتبار وړ، مشروع او رښه) څخه د هغوی مفهوم څه دی، په ځانګړېتوګه میلیونونو افغانانو ته چې د ټاکنو د پروسې په هکله حتی د اساسي پوهې څخه هم محرومه دي. په داسې حالکې چې په نړیوا له کچه منل شوي د ټولټاکنو معیارونه د پروسې د تخنیکي ارزونې په رامنځته کولو کې مرسته کولای شي، همدارنګه د اندازه کولو د نورو معیارونو د رامنځته کولو په اړه ځینې نظریې هم باید په پام کې ونیول شي تر څو افغان رایه ورکوونکي وکولای شي دغه معیارونه وکاروي او پریکړه وکړي چې ایا دغه پروسه بریالۍ وه که نه.

ددغه موخې د ترلاسه کولو لپاره، د بریالیتوب درې معیارونه د پاملرنې په موخه په لاندې توګه توضیح کېږي:

### د هیواد ټولو برخو ته باید دا فرصت ورکړل شي چې د ټولټاکنو په پروسه کې په مساوي توګه برخه واخلي

د امنیتي شرایطو سره سره، باید هر اړخیزه هڅه وشي تر څو د ناامنه سیمو د ایستلو یا استثناء قایلیدو له لارې د ټولټاکنو پروسه له خطر یا د نااستازې پروسې په څیر د انګیرلو څخه وژغورل شي، لدې امله په توکمي کشمکش یا خړپړتیا کې چې په ټول هیواد کې خپره ده، لاس وهل ښې پایلې نلري؛

### کاندیدانو ته باید یو انډول فرصت برابر شي چې د مقام د لاسته راوړلو لپاره کمپاین وکړي

دوی نباید د خپلو سیالانو یا غیرقانوني وسله والو ډلو پوسیله

[47] مایکل سیمپل، *د افغانستان انتقالي ټولټاکنې – د ۱۳۸۳ کال د ولسي جرګې له ټولټاکنو څخه زده کړه،* (د ۲۰۰۸ کال د می میاشت)، ۱۸.

[48] په اروپا کې د مرستې او ټیکاو د ټینګښت سازمان (OSCE)، "وړاندیزونه،" ۱۳۸۲؛او اس سي اي "وړاندیزونه،" ۱۳۸۳ کال؛ د اروپا اتحادیه د ټولټاکنو د څارنیز ماموریت رپوټ، *په افغانستان کې د دموکراسۍ منځته راوړل؛ او د ازادو او عادلانه ټولټاکنو د بنسټ عمومي رپوټ.*

چې د محلي قومندانانو یا حکومتي چارواکو سره تړاو لري تهدید شي. دغه سیالان یا غیر قانوني وسله وال ښایي د هغه محلي قومندانانو سره تړاو ولري چې د خپلو شخصي ګټو لپاره عمل کوي؛

هیڅ یوه ذیعلاقه ډله باید پدې ونتوانېږي چې ادعا وکړي چې هغوی ته د ټاکنو په پروسه کې د برخه اخستلو فرصت نه وو برابر شوی

د راتلونکي ټاکنیز دوران (پړاوونو) په پای کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه باید پدې قادر اوسي څو یوی بنیادي پوښتنې ته ځواب ووایي: "ایا مونږ په خپل ورتیا کې هر هغه څه وکړه چې د ټولټاکنو یوه بریالۍ پروسه ډاډمنه کړي؟"

د تیرو ټولټاکنو راپدیخوا، د خلکو نه پرځای شوی هیلې یوازې د دی لامل وګرځیدې چې خلک د دموکراتیک بدلون څخه خپل ملاتړ څرګند نکړي. نږدې راتلونکې ټولټاکنې باید په اساسي توګه هم د افغانانو او هم نړیوالو لخوا په ډیر پروګراماتیک شکل و ارزول شي او همدارنګه په لاره واچول شي. هغه هیلې چې د ټولټاکنو پایلو پوری تړلی وي، باید ریښتنې اوسي (یعنې هغه هیلې چې د راتلونکو ټولټاکنو یا له غوره شویو استازو څخه کېږي، باید د عقل او استدلال په چوکاټ کې اوسي). تر ټولو مهمه خبره دا ده چې، د ټاکنو پروسه باید د افغانانو لخوا په مجموعي شکل د اعتبار وړ او مشروع وګڼل شي.

## VI. پایلې

په افغانستان کې د راتلونکو ټولټاکنو په وړاندی د بې شمیره ننګونو سره سره، د ۱۳۸۳ راهیسې د ټاکنو په پروسه کې ښه والی رامنځته شوی. د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې او د راتلونکو دوه کلونو په اوږدو کې د ولسمشری، ولایتي شورا، ولسي جرګې او د ولسوالۍ شورا د ټولټاکنو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون رول د رهبري کوونکي سازمان په حیث، یو مثبت پرمختګ دی.

دغه ټولټاکنې به افغان حکومت ته په تخنیکي کچه یو لړ ستونزې او ننګونې رامنځته کړي خو همدغه راز یو بې ساری فرصت هم ور په لاس کوي څو خپلو خلکو ته په اثبات ورسوي چې حکومت د هیواد د روان دموکراتیک بدلون په برخه کې په بشپړ ډول ژمن دی. حکومت د ټاکنو د پروسې د ملاتړ په موخه د ښکاره او واقعي ګامونو د اخستلو په وسیله دغه کار تر سره کولای شي. دغه ګامونه وړاندی موضوع ګانې په برکې لري: د ټاکنو د پروسې په ټولو اړخونو کې د حکومتي وزارتونو، ارګانونو او عامه چارواکو د بشپړي مرستې او ملاتړ ډاډمنول، او د اخستل شویو ګامونو په پرتله د لا زیاتو ګامونو اخستل دي ترڅو د دولتي سرچینو د غیر قانوني استعمال یا د خپلو چارواکو د نامشروع فعالیتونو څخه مخنیوی وکړي.

همدا ډول افغانان به نړیوالی ټولنې ته سترګې په لاره وي چې نه یوازې مالي مرسته او تخنیکي ملاتړ چمتو کړي بلکه همدارنګه د پروسې باورتیا او مشروعیت هم تضمین کړي. دا په ساده ډول د معمولي او په سطحي توګه د کار کولو په پرتله د زیاتې مرستې او ملاتړ په مانا دی. نړیواله ټولنه دا فرصت لري چې خپله ژمنه د بریالۍ ټولټاکنې د پروسې په وړاندی له سره نوی کړي، او ددی خوځښت سره د مرستې کولو په وسیله دغه پروسه د دموکراتیک کولو د روانو هڅو په شمیر کې راولي. پداسې حالکې چې، افغانان باید د دموکراتیک بدلون د پروسو لپاره چې اوسمهال جاري دي مسؤلیت او حساب ورکونه پغاړه واخلي، دغه راز نړیواله ټولنه هم باید د راتلونکو ډیرو کلونو لپاره په بشپړه توګه ژمن او مرستندویه شریکبانه پاتې شي.

په شرایطو پوری تړلی دوه ستری ننګونې چې د ټولټاکنو تنظیمونکي او پلی کوونکي ورسره مخ دي، ظرفیت او امنیت دی. د رایه ورکوونکو په منځکې د ټاکنې د پروسې او د دموکراسۍ په هکله د بنیادي پوهی نشتوالی او د پروسې په وړاندی عمومي ناخوالي، چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د محدود ظرفیت او په بیړه لنډیدونکی مهال ویش سره یوځای دی، ښایي ستونزمن ثابت شي. شاید ستره مسأله چې د امنیت خرابیدل دي، کولای شي ټولټاکنو ته د نااستازو ټولټاکنو لقب ور په برخه کړي او د تخنیکي پروسو او همدارنګه د پلی کوونکو او رایه ورکوونکو د لاسرسنې او لاس لرلو د ممانعت له کبله، قومي اندیښنې زیاتی شي.

افغانستان د ټولټاکنو د لومړي دوران څخه وروسته چې ژر به د ټاکنو دوهم دوران (پړاو) ته واوړي، د ټولټاکنې پړاوونه په بشپړه ډول فعالی او استازی دموکراسۍ ته د رسیدو څخه ډیر لری دی. د دموکراتیک کولو د اوسمهالي روانې پیچلې پروسې د کامیابۍ ډاډه کول به ډیر زیات تکرار، متعهدی رهبرۍ او مشغولا ته اړتیا ولري. په بنیادي ډول، د هیواد په ظاهریدونکې دموکراسۍ باندی د خلکو اعتماد رامنځته کولو لپاره، دواړه ملي او نړیوالی هڅې باید د انفرادي شخصیتونو په پرتله د دغه پروسې څخه ملاتړ ته ترجیح شي.

پدغه پانه کې وړاندی شوي وړاندیزونه ټول هغه ننګونې نه په ګوته کوي چې راتلونکې ټولټاکنې ورسره مخ کیږي، بلکه دغه وړاندیزونه کوښښ کوي څو هغه مهمو موضوع ګانو ته چې په مرکو کې تشخیص او له فرعي سرچینو څخه ترلاسه شوي، ځواب ووایي. د ظرفیت د خلاګانو او جدي امنیتي اندیښنو سره د مبارزې په موخه ضروري ګامونه باید سمدلاسه اوچت شي تر څو دا موضوع ډاډمنه کړي چې افغانان د ۱۳۸۸ لمریز کال د ټاکنو پروسې د قانوني او د اعتبار وړ بریالیتوب په څیر ګوري. د مدني ټولنې یو فعال غړي د یو افغاني ضرب المثل په تفسیرولو سره یادګیرنه وکړه چې، ددغه راز هڅو او اقداماتو څخه پرته د ټولټاکنو کوښښونه "به په ساده ګۍ سره پدی مانا وي چې لوټه کیږده او له اوبو پوری وځه."[49]

---

[49] مرکه، کابل، د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي ۲۷مه نېټه.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې وروستۍ خپرونې

| | |
|---|---|
| ۱۳۸۷ کال، د تلې میاشت | د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې ټولې خپرونې په دغه ویب پاڼه www.areu.org.af کې د راښکته کېدو لپاره یا په کابل کې د نوموړې ادارې په دفتر کې موجودې دي. |
| ۱۳۸۷ کال، د تلې میاشت | کوکنار او غیررسمي پورونه، د ادم پین لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، د زمرې میاشت | د افغانستان د پټو درملو ستونزه: د سایکوټراپکس (نشه راوړونکو درملو) غلطه استفاده، د ډیوید مکدونالد لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، د زمرې میاشت | په شاقه کارونو باندې د ماشومانو د ګومارلو په پریکړو باندې نفوذ کوونکي عوامل: د بدخشان په کلیوالو سیمو کې د بې وزله کورنیو په اړه موضوعي څېړنه، د پامیلا هنټې او اناستاسیا هزیاینوا لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، د زمرې میاشت | د افغانستان د څېړنو خبرپاڼه—۱۸مه ګڼه |
| ۱۳۸۷ کال، غبرګولی | او به څنګه بهېږي: په افغانستان کې د اوبو لګوونې سیستم، د باب روټ لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، غویی | کوچنۍ قرضې، غیر رسمې پورونه او کلیواله معیشت: د بامیانو په ولایت کې د یو کلي موضوعي څېړنه،" د ارنا اندرسن او امندا سیم لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، وری | په ایران کې د افغانانو دوهم نسل: یو والی، هویت او راستنېدنه، د محمد جلال عباسی-شاوازی ایت ال لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، وری | د افغانستان د څېړنو خبرپاڼه—۱۷مه ګڼه |
| ۱۳۸۷ کال، وری | په افغانستان کې د سیمه ییز حکومت جوړونه، د هیمش نیکسن لیکنه |
| ۱۳۸۷ کال، وری | په شاقه کارونو باندې د ماشومانو د ګومارلو په پریکړو باندې نفوذ کوونکي عوامل: په کابل کې د بېوزلو |
| ۱۳۸۷ کال، وری | کورنیو په اړه موضوعي څېړنه،" د پاولا کانتور او اناستاسیا هزیاینوا لیکنه. |

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده چې په کابل کې موقعیت لري. ددغه ادارې ماموریت د لوړ کیفیت څېړنو تنظیمول دي تر څو پدې وسیله پالیسي او کړنلار متأثره او آګاه کړي. همدارنګه، دغه اداره په افغانستان کې د تحلیلي ظرفیت د پیاوړي کولو په واسطه د څېړنې او زده کړې کلتور ته په فعاله توګه وده ورکوي او دغه راز په سیمه کې د موجودو ستونزو په هکله نظریو او مباحثو ته لار هواروي. د دغې ادارې بنسټیز لید دا دی چې کار او فعالیت یې باید د افغانانو په ژوند کې ښه والی رامنځته کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې ټولې خپرونې د راښکته کولو لپاره په دغه ویب پاڼه www.areu.org.af کې د لاسرسنې وړ دي او چاپ شوی کاپۍ یې د دغه ادارې له دفتر څخه ترلاسه کولای شئ، زمونږ پته:

د ګل فروشۍ کوڅه، د دوهمې کوڅې ګوټ، نوی ښار، کابل

د تیلفون شمېره: 548 608 799 (0) 93+ ، ویب پاڼه: www.areu.org.af، برېښنا پته: areu@areu.org.af